شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریک نشراتي ارګان

لومړی کال | شپږویشتمه ګڼه | دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال د سرطان د میاشتی (۱۱) | د ۱۹۹۶ میلادی کال د جولای (۱) | د۱٤۱۷ ق کال صفر المظفر (۱۵)

کبرجن جنت ته نشی تلای

حضرت ابن مسعود (رضی الله عنه) وایي: دالله رسول (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی دی: «دچا په زړه کی چی د مثقال د زری غوندی کبر وی، هغه به جنت ته ولاړ نشی، یوه سړی وویل؛ سړی خو دا خوښوی چی جامی او بوټونه یی ښایسته وی (نو دابه هم کبر وی؟) هغه (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: الله (ج) ښایسته دی، ښایست خوښوی، کبر حق باطلول او خلکوته په خواره سترګه کتل دی. (مسلم - مشکوة)

خپل عمل د لاری مل دی

لوی خدای(ج) فرمایی:

«تاسی ته چی کوم مصیبت رسیږی، هغه د تاسی د هغو اعمالو(له شامته) څخه دی چی تاسی په خپلو لاسونو باندی کړی دی؛ او الله تعالی ډیر (ګناهونه) درته بښی.» (شوری - ۳۰)

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریک د عالی شوری سر پرست او دقندهار والی ملا محمد حسن اخند له شریعت او نیزی سره په مرکه کی:

په افغانستان کی د یوه واقعی اسلامی دولت د جوړولو په خاطر ټول باید سره یو مُټی شو

حموږ مخالفت له هغه چاسره ده چی په هیواد کی فساد جوړوی او قدرت غوښتنی په خاطر بی ګناه خلک وژنی

په کندهار کی د تحریک او جهادی مشرانو غونډی ثابته کړه چی، موږ د جهاد ملګری او فساد په خلاف سره یو یو

د ملت په خلاف د قاتلانو ائتلاف به د اسلامی تحریک د مجاهدینو اسلامی مقاومت مضبوط او دالهی نصرت ور وګرزوي

پوښتنه: په قندهار کی د طالبانو اسلامی تحریک په بلنه د جهادی مشرانو په غونډه کی فیصله و شوه چی د رباني حکومت غیر قانوني او غیر شرعی دی باید قدرت پریږدی. دغه غونډه تر څومره اندازی د افغانستان د خلکو او د تحریک په ګټو بولی؟

ځواب: قندهار ته د طالبانو د اسلامی تحریک له خوا د جهادی مشرانو دا بلنه د دی حقیقت ښکارندوی ده، چی د طالبانو اسلامی تحریک ټولو عمر جهادی مشرانو ته احترام لری چی په څوارس کلن جهاد کی یی د روسانو او کمونستانو په خلاف حموږ د مجاهد ملت لار ښوونه کړی ده او هغه یی د کامیابی پړاوته رسولی دی او وروسته یی په هیواد کی د فساد په خلاف د طالبانو اسلامی تحریک مرسته په یوه او بله بڼه کړی ده په قندهار کی د تحریک او جهاد مشرانو غونډی او فیصلو ثابته کړه چی موږ اوس د جهاد ملګری او د فساد په خلاف سره یو یو، دا ټول غونډی د طالبانو، د

٤مخ

انقلاب ګټل آسان او ساتل یی ګران کار دی

له بده مرغه د کمونستی رژیم له رنګیدو سره هغه حوك قدرت ته ورسیدل چی مقدس جهاد یی بدنام او د قدرت او چوکی پر سر یی جګړی پیل کړی

(حاجي ملا محمد حسن اخند)

موږ نن هغی خاوری ته راغلی یو چی د حضرت عبدالرحمن بن سموره پښی یي ښکل کړي او په تاریخ کي یي علما، مرشدین او غازیان زیږیدلی دی

دا هغه خاوره ده چي د روس غوندی طاقت پکی ماتی وخوړه

(حضرت مولانا محمد رفیع عثمانی)

پرون امیر المؤمنین محترم ملا محمد عمر مجاهد، د عالی شوری سرپرست او د کندهار والی محترم حاجی ملا محمد حسن اخند، لوی څارنوال محترم حاجی ملا محمد عباس اخند او د عالی شوری یو شمیر غړیو د عالی شوری په میلمستون کښی د پاکستان د سند ایالت کراچی څخه د راغلیو جیدو علماً کرامو هر یو د فاق المدارس صدر مولانا سلیم الله خان صاحب او د جامعی فاروقي مهتمم محترم مولانا محمد رفیع عثمانی صاحب د کراچی د جامعه دار العلوم مهتمم او شیخ

٤مخ

فابریکه یخ سازی در هرات فعال گردید

با آنهمه مشکلاتیکه به همکاری دشمنان خارجی ما اداره‌ء نام نهاد کابل در مقابل ملت مسلمان ما ایجاد میکند کوشش می کنیم که در اعمار مجدد کشور عزیز تپ و تلاش نماییم.

(ملا یارمحمد آخوند والی هرات)

خبر نگار ما از ولایت هرات خبر میدهد که در ولایت متذکره محفلی به این ارتباط دایر گردیده بود که در آن والي محترم هرات ملا یار محمد آخند و تعدادی از مسئولین ولایت هرات و علاقمندان اشتراك ورزیده بودند.

خبر نگار ما می افزاید که در این محفل به ارتباط اعمار مجدد و آبادانی کشور صحبتهای صورت گرفت. و والی هرات در بیانیه‌ء خود گفتند که این فریضه‌ء ملی واسلامی ماست که برای هموطنان خود همه ضروریات روزمره را مهیا سازیم.

والی صاحب گفت: با آن همه مشکلاتیکه به همکاری دشمنان خارجی ما اداره‌ء نام نهاد کابل در مقابل ملت مسلمان ما ایجاد میکند کوشش میکنیم که در اعمار مجدد کشور عزیز تپ وتلاش نمائیم.

بعداً ولسوال گذره خط مشي اقتصادي تحریك اسلامی را تشریح نموده گفتند در سال جاری در نظر داریم که برای همه دهاقین ولایت هرات تخم اصلاح شده، پخته را توزیع نماییم تا کشور در صحنه، زراعتی و صنعتی به خود متکی شود.

متعاقباً مسئول فابریکه یخ سازی عبدالغنی صحبت کرده افزودند که در آینده نزدیك تصمیم داریم که فابریکه روغن را هم فعال نماییم که بواسطه آن یك اندازه مشکلات هموطنان ما رفع خواهد شد.

شیخ القران و الحدیث (کان مولوی صاحب) په حق ورسید

انا لله و انا ...

په خواشینی سره مو خبر اخیستی دی چی د افغانستان یو نامتو عالم شیخ القرآن والحدیث مولانا عبد الرحیم چی په کان مولوی صاحب یي شهرت درلود د څه دپاسه سلو کالو په عمر د هجرت د دیار په جلوزو کمپ کي په حق ورسید. (انا لله و انا الیه راجعون)

زموږ خبریال د جلوزو له کمپ څخه خبر راکوی په داسی حال کی چي د جلوزو د کمپ فضا غم او ویر نیولی وه په زرګونو تنو مهاجرینو، انصارو، علماو، د مرحوم مولوی صاحب اخلاصمندانو ، د طریقت پیروانو او مریدانو د هغه په جنازه کی ګډون وکړ.

خبریال زیاتوی چی د مرحوم د جنازی لمونځ د افغانستان د نجات د ملی جبهی د مشر پروفیسور حضرت صبغت الله مجددی په امامت ادا شو او د هغه د وصیت له مخی یې جنازه ننګرهار ته انتقال او د چپرهار د کنډی باغ د کلی د حضرتانو په هدیره کي خاووروته وسپارل شوه.

مرحوم شیخ القرآن والحدیث مولانا عبدالرحیم د هیواد د هغو علماؤ له جملی څخه ؤ چي د وطن و ازادی په جنګ کي یي له انګریزانو سره ډغری وهلی دي او دادی بیا یي له روسانو سره د مقدس جهاد په ډغروکی د برخی اخستلو ویاړ هم ترلاسه کړ.

٤مخ

شریعت

سرمقاله

د حکمتیار د لوړی په مراسمو کی مسعود حاضر نه ؤ

د تیری چارشنبی په ورځ د ۱۳۷۵ش کال د چنګاښ په ٦ نیټه حکمتیار هغه ځه په ډیره خوښی سره ومنل او د هغه لپاره یی لوړه وکړه چی یو وخت یی په راکټونو او توپونو ویشتل، هغه د کابل د اداری لپاره صدارت عظمی ؤ، په هغه وخت کی د ربانی اداره تقریباً د ټولو جهادی تنظیمونو او د ملت په خوښه او خوشحالی د اسلامی دولت په نوم منځ ته راغله او سخته ښه موقع وه چی ده پخپله هغه وخت دغه د صدارت کرسی نیولی وای او خپل قوت او استعداد یی د اسلامی دولت او غمځپلی ملت په خدمت کی صرف کړی وای نو نه به دی د ملت په وړاندی دومره بی قدره او د کرکی وړ ګرزیدلای وای، نه به د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت ددوی د دښمنۍ په لمبو سوځیدلای وای، نه به کابل دغسی وران ویجاړ او نه به یی خلك په داسی تباهی تباه شوی وای چی شول، له بده مرغه په هغه وخت کی چی له ده نه د ارګ نیولو مقصد فوت شوی وو نو یی په کابل باندی د اور او اوسپنو هغه تاړاك جوړ کړ چی هیڅ دښمن داسی نه ؤ کړی، له دوو کلونو څخه زیاته موده یی هغسی توپونه او ترغندی په کابل تقریباً هره ورځ ویشتل لکه چی دده د لوړی د مراسمو په ورځ د «دوست او دښمن» توپونو او ترغندیو دده د لوړی په صحنه قیامت جوړ کړ، خو کله یی چی خپله ډله او ملت دواړه تباه کړل نو بیایی د ربانی اداری ته -د هرچا په فشار او په هره انګیزه چی ؤ- په داسی وخت کی ځان ورتسلیم کړ چی د هغی اداری هیڅ شرعی، سیاسی او ملی حیثیت پاته نه دی او بیا یی دده د لوړی مراسمو لپاره د یو ښه مخور عالم په ځای د کمونستانو د اقتدار د وخت پر قاضی -مرادعلی مراد- ورغوښتی ؤ چی مخ یی د کتلو نه ؤ، خلك وایی دغه کار د حکمتیار د اهانت لپاره شوی ؤ، داهم ویل کیږی چی احمدشاه مسعود نه خو د لوړی په مراسمو کی، نه د استالف په غونډه او نه په هیڅ بله غونډه کی تر اوسه ګډون کړی دی، له دی نه خلك داسی تعبیر کوی چی یا خوبی اعتماد تر منځ نشته او یا د حکمتیار په کیسه کی نه دی، ځنی لا وایی چی د هغو رهبری شوو راکټونو د پروګرام په جزئیاتو خبرو چی د حکمتیار په څنګ کی پریوتل؛

له دی واړو سره سره د مسلمانانو تر منځ نږدی والی او دښمنی پریښودل ښه خبره ده او هر مسلمان پری خوشحالیږی مګر ددغه ائتلاف وړاندی او وروسته قرائن او ددغو طرفینو سوابق دا ښیی چی هیڅوك هم زړه نه شی ورته ښه

(ص ۲)

د طالبانو د عالی شوری په غونډه کی بیل بیل موضوعات وڅیړل شول

په روانه میاشت کي به د هیواد ټول مخلص اقتصاد پوهان، ملی سوداګر او صرافان راوغوښتل شي چی په دی مسئلو بحث وکړی

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی د عالی شوری په میلمستون کي د اسلامي تحریك د مرستیال محترم ملا محمد ربانی په مشری د طالبانو عالی شوری غونډه وکړه.

خبریال زیاتوی چي غونډه د عظیم الشان قرآن د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه او بیا د غونډی

٤مخ

نمایندگی طالبان «پشاور» در یك اظهار نظری گفته اند که:

طالبان مناطق ملکی را هیچگاه تحت آتش قرار نداده و نمیدهند

اداره‌ء ربانی از هم شهریان مظلوم و بی دفاع کابل سپر انسانی مقابل آرزو های خود ساخته است.

جامعه بین المللی مکلفیت دارد که این عمل مخالف ایجابات حقوق بشری را محکوم و همشهریان کابل را یاري رساند.

آنهمه راکتهایکه آتش شده بود تماماً به اهداف خود اصابت نموده است

«حکمتیار»

تحریك اسلامی طالبان از میان مردم غرض نجات و حفاظت سرو مال آنها و تاسیس یك نظام و اداره‌ء واقعاً اسلامی که یگانه خواست و ارمان مجاهدین و شهدا و کافه ملت مسلمان افغان میباشد به پا خواسته اند و الحمد لله به نصرت الهی «ج» و همکاری بیدریغ مردم متدین کشور در بیشتر از نصف کشور شریعت الهی را نافذ

ص٤

مسلمانی عقیده

دوهم مخ

په وروستیو پیړیو کی بین المللی اړیکی

دوهم مخ

خدمات دینی و اجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

صفحه دوم

ملت قهرمان در اسارت حکام نا اهل

ص ۲

د ادب ملغلری

(دریم‌مخ)

(شیخ الحدیث مولوی محمد حسن جان صاحب)

دخلکو له احساساتو څخه ښکاری چی دطالبانو داسلامی تحریك په پیل کیدو ډیر خوښ دی

په هرات کی دامن او قانون فضا وه. خلك پخپلو کارونو بوخت وو او خوشالی حکمفرما وه

(شیخ الحدیث مولوی غلام محمد صادق صاحب)

موږ ربانی او حکمتیار ته وویل چی له توم سره دښیګنی تقاضا دا ده چی تاسو اتفاق او اتحاد وکړئ

دربانی او حکمتیار ائتلاف دطالبانو داسلامی تحریك دناکامی سبب نه شی ګرځیدلای

۳مخ

د طالبانو اسلامی تحریك په هیواد کی د ظلم، فساد، منکراتو، چور او چپاول د مخنیوی لپاره راپورته شوی دی

٤مخ

اسلامی حکومت با عمله مسلمانان جوړولی شی، نه د مسکو کمونیستان

شریعت

دامتیاز خاوند : د افغانستان دطالبانو اسلامی تحریك
د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
د لیکوال هیئت تر کتنې لاندی
مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان
تیلفون : ۸٤،۳۷۸
آدرس : په پسور کښی د طالبانو داسلامی تحریك نماینده گی
دیوی گنی بیه : په هیواد کښی (۳۰۰) افغانی
په پاکستان کی (۲) کلداری

سرمقاله ...

کولای او له خیر نه یی د شر انتظار ډیر کیږي، که څه هم ددغه ائتلاف مشران په خپلو څرگندونو کی وایی چی موثر د افغانی تفاهم لاره خلاصه کړه، دغه حکومت به موقت او انتقالی وی چی په نیم کال کی شرعی انتخابونه وشی او منتخب اسلامی دولت منځ ته راشی...، مگر وروسره داهم وایی چی ټول افغانی قوتونه او ولی دی دغه ائتلاف خپل محور او هسته وگڼی او ددی په شاو خوا دی راغونډ شی، که څیره په دغه پیه ژی تر هیڅوك به هم دی ته حاضر نه شی چی خپل جهادی قوتونه دوی ته تسلیم کړی لکه چی د جهاد او هجرت په وخت کی هیڅ یوه جهادی قوت هم دا څیره نشوای زغملی چی حزب او جمعیت ته له هرڅه سره تسلیم شی او همدغه څیره دا معنی هم لری چی دغه اداره داسی نیت لری -که وکولای شی ځان ټینگ کړی- چی تل تر تله به خپل حکومت کوی، ددی څیری دلایل ډیر دی، له ډیرو نه یو دادی چی د ربانی له اداری نه بهر د افغانستان د قضیی ټول جهتونه په یوه خوله وایی چی د ربانی استعفاء د تفاهم او کشالی د حل بوازینی شرط دی خو ربانی له دی واړو غوښتنو سره سره استعفاء ته نه حاضریږی ان تر دی چی یو وخت به یی په خوله د قدرت پریښودلو څیره کوله اوس یی هغه هم نه ده کړی بل یی دا دلیل دی چی د حکمتیار د لوری په مراسمو کی دوی په دی څیره خوشحالی ښکاره کړه چی د تحریك شاخونه بیرته سره یوځای شول نو دغه خوشحالی بوازی هلته تامیندلای شی چی حکومت بوازی له دوی سره وی او که چیری د ټول افغانستان په سطحه اسلامی دولت جوړ شی نو بیا خو ددوی تحریك چی ولسی بیخ نه لری پکښی منحل کیږی، په دی پرسیره؛ حکمتیار د خپل تحریك منبع له مرحوم استاد عبدالرحیم نیازی(رح) نه گڼی او ربانی یی له مرحوم استاد غلام محمد نیازی(رح) نه را پیل کوی نو په دغه ترتیب سره د یو تحریك ښاخونه نه دی او وحدت یی بوازی په دغه ائتلاف کی تأمیندلای شی له ائتلاف نه مخکی یی هم سخته دښمنی سره لرله او وروسته به هم د انتخاباتو او اقتدار کشمکش ددوی تر منځ جاری وي.

او بل یی دا دلیل دی چی د چوکیو د ویش لپاره یی ډیری اوږدی مناقشی سره وکړی او اوس هم ډیر په احتیاط او ویښتیا سره گام اخلی د موقت وخت لپاره دومره حزم او احتیاط نه ضرورت نه احساسیږی، له دی واړو سره سره که ددوی دا څیره چی د انتقالی حکومت لپاره یی ائتلاف سره کړی دی رښتیا وی نو نږدی راتلونکی شپی او ورځی به له پټو نیتونو نه پرده پورته کړی بلکی لا د تیری جمعی او شنبی په ورځو چی ربانی په جلال آباد کی له جهادی مشرانو سره خبری کولی چل ول به یی ښکاره شوی وی او ښکاره به شی، که رښتیا یی د انتقالی حکومت جوړولو نیت وای نو له ائتلافي حکومت جوړولو مخ کی به یی د خبرو او تفاهم لپاره مساعده فضا جوړه کړی وه او په گډه سره به یی انتقالی حکومت جوړ کړی وای هغه به هله کیدای شوای چی ربانی تر مخه استعفاء کړی وای او د جهادی مشر په صفت له نورو جهادی مشرانو سره په یوه کمپله کیناستلای وای نو په هغه صورت کی به د هغه چا اعتماد هم پیدا شوی ؤ چی اوس یی اعتماد بیخی ختم شوی دی او چی کله اعتماد پیدا شی نو بیا خو جنگ هیڅوك نه خوښوی او نه یی د حل لاره بولی.

اوس له ائتلافی حکومت جوړولو نه وروسته هم که نیتونه یی خراب نه وی د ربانی د استعفاء په صورت کی د خبرو اترو لپاره مساعده فضا جوړیدای شی او که بیا د خبرو په وخت کی یی نیتونه سم وو نو د کړکیچ د خلاصون په لوری چټك گامونه اخیستل کیدای شی، اللهم اهدنا و سددنا ■

بین المللی اړیکی :

په معاصرو پیړیو کی بین المللی اړیکو ته لنده کتنه

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

په تیرو پحشونوکی مو د انسانی غیر اسلامی ټولنو او دولتونو تر منځ بو لړ بین المللی اړیکو ته اشاره وکړه چی مختلفو ملتونو، دولتونو او ادیانو هڅی کړی دي چی یو بین المللی نظم او د یسیپلین را منځ ته کړی خو د دی دپاره چی په نظریاتی او مفکوروی پانگه کی بهایه نه ؤو دغو هلو ځلو د مشبتو اغیزو په ځای په بین المللی نظم باندی منفی اغیزی لرلی دی او د انسانی ټولنی د تباهی او بربادی باعث گرځیدلی دی، په دغه بحث کی غواړو چی په معاصرو پیړیوکی بین المللی اړیکو او دانسانی ټولني تر منځ د غیر اسلامی بین المللی نظم او دیسیپلین (Disci phline) په هکله خبری و کړو. چی معاصر نړی تر څومره اندازي پوری د انسانی ټولنی د دغی فطری او طبیعی غوښتنی په تر سرته رسولوکی بر بالی شوی ده؛

د بشریت د تمدن او انسان د بین المللی اړیکو کاروان د خپل سفر په وروو کی ورو ورو

اولسمی پیړی ته ننوځی چیرته چی عیسائیت او یهودیت د مفکوری او عقیدی په لحاظ د ماتی او سقوط سره مخامخ کیږی او ملتونه غواړی خپلی ستونزی د خپل منځی مناقشو او د هغه په نتیجه کی د شویو ترونونو او معاهدو په واسطه سره حل او د راتلونکی د پاره دتړي والی سولی او بین المللی نظم د رامنځ ته کولو په خاطر د ملتونو دپاره دمنلو وړ نظام او سیستم را مینځ ته کړی، او

خپلی شخړی دجگړی په ځای د مذاکراتو او مرکو په واسطه غوځی کړی

په کال ۱٦۲۵ م کی گورتس، د «دسولی او جگړی قانون» تر عنوان لاندي کتاب و لیکه چی زیات شهرت یی تر لاسه کړ او وروسته بیا د هغه پیروانو ځینی داسی اصول او ضوابط را منځ ته کړل چی دولتونه باید له یو بل سره بنی اړیکی ولری او د خپل منځی تعلقاتو بنسټ په سوله او امن باندی کیږدی. خو د دغو اصولو او ضوابط په نتیجه کی په نړی کی کوم بین المللی نظام یا مؤسسه نه ده را منځ ته شوی. په کال ۱٦٤۸ م کی د ویست فالیا (West phalia) معاهده د یو شمیر هیوادونو تر مینځ لاسلیك شوه، چی لاندی نتائیج یی را مینځ ته کړل :.

الف: د دغه تړون له مخی د روسیی د سلطنت و اکمنی چی د اروپا په ډیرو هیوادونو باندی وه پایته ورسیده.

ب: د دغی معاهدی له مخی په اروپا کي اوږ ده جگړه پایته ورسیده.

ج: د دغی معاهدی په اساس د اروپا پاچاپانو د روم د پاپایی سلطنت د فرمانونوله منلو نه انکار و کړ.

د: د دغی معاهدی په واسطه په اروپاکی معاصر دولتی نظام پیل شو. لنډه داچی دویست فالیا معاهده په اروپا کی د دولتونو ترمینځ داړیکو او تعلقاتو یوه نوی دوره پیل کړه.

په اتلسمه پیړۍکی یوه آلماني عالم د «ټینگی سولی» تر عنوان لاندی یو کتاب و لیکه او دا مفکوره یی وړاندی کړه چی ملتونه په خپلوکی داسی یو مرکز باید ولری چی هدف یی د تل د پاره د جگړو پا یته رسول وی. او د جگړی خطر له مینځه و لاړ شی، فرانسوی عالم روسو دټولی اروپا د فدارلی دولت نظر په وړاندی کړه چي په حقیقت کی یی دټینگی سولی-د مفکوری ملاتړ وکړ.

په کال ۱۸۱۵ م کی د مقدس یووالی تر عنوان لاندی، روسیی پروس او اطریش اتحاد وکړ چی په دینی اساس به له یو بل سره مرسته او همکاري کوی او سوله به مینځ ته راوړی، چی څو کاله وروسته ناکام شوه په کال ۱۸٤۳ م کی په لندن، او کال ۱۸٤۷ م کی په پاریس کی غونډی او کانفرانسونه جوړ شول چی د سولی د را وستلو او غلامی د پایته رسولو مفکوره په ډیر زور سره را مینځ ته شوه چی په کال ۱۸۷۰ م کی نږدی د اروپا ټولو هیوادونو د جگړي په صورت کی د ثالثی یا دریمگړیتوب د مرکی اصول ومنل. په کال ۱۸۹۳م کی په شکاگو کی یوه غونډه و شوه چی د قضا د بین المللی محکمي د جوړولو یوه مفکوره په کی بحث شوه. او په کال ۱۸۹۹ م کی د د لاهای د سولی کانفرانس جوړ شو چی د نړی دولتونو ته یی بلنه ورکړه څو د ثالثی یا دریمگړیتوب د بین المللی اداری د جوړولو د پاره هلته په یوه عام تړون باندی د توافق یوه بله غونډه وشوه، چی د وسلو د کموالی او د ثالثی د بین المللی اداری د جوړولو په هکله پکی پریکړي و شوی او په لاهای کی یی د تحقیقاتو او بین المللی قضاو را مینځ ته کولو د پاره هدایات ورکړل، خو دغه غونډه هم دعمل په میدان کی ځان ٤مخ

د مسلمانی عقیده

غازی خیل

دفقهی تاریخ او څلور مذهبونه:

دڅلورم د ود پنځم توپیر دفقهی احکامو په ماخذ (د اخستلو ځای) کی اختلاف ؤ؛

په دغه دورکی دهغو علما وو (رح) تر منځ چی شرعی حکمونه یی له شرعی اصولونه را اخیستل سخت کش مکش راپیداشو؛

لومړی کش مکش په سنت او حدیث کی: مخکی د وروونه تیر شول په هغه وخت کی سنت او حدیث د شرعی حکم د مأخذ په حیث هر چا منلی ؤ چی کله به یی په قرآن مجید کی د پوښتنی ځواب پیدا نه کړ خامخا به یی له سنت او حدیث نه ځواب ورته پیدا کاوه، په دغه دور کی د رسول الله صلی الله علیه واله و سلم دژوند زمانه لری شوه، د حدیثونو روایت کوونکی- کره او ناکره- ډیر شول، په تیره دا چی په دروغو جوړ شوی حدیثونه زیات شول، نو چابه چی شرعی حکم له حدیث نه اخیست له استنباط نه پخوایی د استوزه مخی نه پرته وه چی معلومه کړی چی: ایا حدیث رښتیادی او که نه؟ نو ځکه په دغه دور کی دسنت او حدیث په هکله د کش مکش نوی در وازه خلاصه شوه یو دا چی ایا حدیث له قرآن مجید نه پس د شرعی احکامو د اخستلو مر جع دی او که نه؟ دمتکلمینو یوه لویه ډله وایی: نه، له امام شافعی رحمه الله تعالی سره یی په دغه هکله اوږدی مناقشی کړی دی، بل دا چی که د شرعی حکم د اصل په حیث یی ومنو - دغه داهل سنت و الجماعت مذهب دی- نو داعتماد کولو لاره یی کومه ده؟ ځینی مجتهدین کرام خبر واحد بیخی ردوی او بوازی متواتر او یا متواترته ورنږدی مشهور حدیث چی د اسلامی ښارونو فقها و کرامو (رح) عمل و رباندی کړی وی منی او ځینی نور- لکه احناف رحمهم الله - په متواتر او مشهور پرسیره خبر واحد هم دلیل شرعی گڼی خو هلته چی په رښتینوالی باندی یی غالب گومان وشی او د دی لپاره یی په (اصول الفقه) کی ځینی شرطونه ټاکلی دی،

مگر شیعه- لکه چی پخوا مو وویل - بوازی دهغه چا روایت منی چی یا د دوی امام وی او یا د امام په لاره روان وی، همدغه رنگه خوارج دهغو اصحابو کرامو (رض) حدیث منی چی د صفین او جمل له واقعاتو نه مخکی تیر شوی دی او بس.

دوم کش مکش په قیاس او استحسان کی دی: لکه چی پخوا مو ویلی دی اصحابو کرامو او تابعینو رضی الله تعالی عنهم به چی په قران مجید او سنت کی د پوښتنی او یا حادثی لپاره دلیل (نص) پیدا نه کړای شو نو بیا به یی قیاس کاوه چی دوی به (رأی) بلله، دهغو قیاس داوه چی د شریعت په عامو قاعدو به یی حکم و کړ لکه مثلا: (لاضر رو لاضرار - یا - دع مایر یبك الی مالا یریبك) مگر را وروسته فقها و ؤ(رح) په دغسی یی واسی قیاس کی دا ضرور احساس کړ چی هر څوك به په دین کی دقیاس په نوم حکمونه کوی او هغه به دسنت په خلاف وی نویی دقیاس لپاره داسی شرط و لگاوه چی قیاس کوونکی به - په عاموقاعدو، نه- بلکی په معتبره او ټاکلی قاعده باندی چی له قران مجید او سنت نه اخیستل شوی وی قیـاس کوی په دغه قیاس کی تر ټولو د عراق فقها، (احناف رح) مخ ته وو، مگر ډیر ځله دوی له قیاس نه مخ اړولی- که څه هم د قیاس ځای وی - او را نقل شوی اثر یا عامو قاعدوته یی مخه کړی ده دغه عمل ته استحسان ویل کیږی، مگر معتزله او اهل حدیث قیاس او استحسان دواړه ردوی، دوی وایی شرعی نصوص د تعبد لپاره یعنی ددی لپاره راغلی دی چی بنده به له دلایلو نه ځان ورتسلیموی نو- چی چیرته نص نه وی نو بیا قیاس ته ځای نشته چوپ به پاتی کیږو؛

او فقهای کرام (رح) وایی چی شریعت معقول المعنی ده هم عام اصول لری چی په قرآن مجید او سنت کی راغلی دی او هم خاص اصول پکی شته چی د مسائلو په خاصو برخو پوری اړه لری نو چی کله د سنت او یا پیښی د ځواب لپاره د اعتماد وړ سنت پیدا نه شی نو بیا به چوپ نه پاتی کیږو او دغو عامو او خاصو شرعی اصولو ته به مخ کوو لکه چی حضرت عمر او نورو مجتهدینو صحابه وو- (رض) به دغسی کول او په دغه شان یی فرمانونه صادر کړی دی،

دریم کشمکش په اجماع کی ؤ چی ایا د اسلامی امت لهټولو مجتهدینو ا تفاق په یو رنگه فتوا ممکن دی او که نه؟

د اسلامی امت د هر یوه مجتهد پیژندنه په امکان کي شته او که نه؟ له دی واړو سره سره د اهل سنت والجماعت فقها وو (رح) په وړاندی اجماع یو شرعی اصل دی ځکه؛ د اصحابو کرامو (رض) په وخت هم ټول مجتهدین معلوم وو او هم په یوه ځای کی وو، له هغه نه را وروسته بیا د اسلام خلیفه ته اسانه وه چی دټولو پیژند گلوی و کړی او هم یی اتفاق معلوم کړی.

څلورم کشمکش د امر او نهی په صیغو (افعل) او (لاتفعل) کی ؤ چی ایا دغه د وجوب او تحریم لپاره دی؟

که د اباحت او د تخییر او... لپاره؟ چی تفصیل یی په اصول فقه کی راغلی دی.

دځلورم دور شپږم توپیر داو چی ددغو علمي اختلافاتو په رڼاکی علما وو کرامو د شرعی احکامو د استنباط لپاره قاعدی و- ټاکلی چی (اصول الفقه) ورته ویل کیږی، په دی کی لومړنی لیکنی امام ابو یوسف او امام محمد رحمهماالله تعالی کړی دی مگر له بده مرغه چی دغه ارزښتناکی لیکني نه دی را رسیدلی کیداشی په تاریخی پیښوکی له منځه تللی وی ، له هغه نه وروسته د امام شافعی رحمه الله تعالی لیکنه ده چی هغه علما وو کراموته په لاس ورغلی ده له هغه نه را ورسته بیا دغه ځانگړی فن گرزیدلی او علماوو کرامو رحمهم الله تعالی ډیر زیات او ارزښتناك تالیفات پکښی وکړل.

دڅلورم دور اووم توپیر دا و چی فقهی اصطلاحات وټاکل شول لکه؛ فرض، واجب، سنت مؤکد او زائد، مستحب یا مندوب مباح، حرام، مکروه، مفسد، فرض عین، فرض کفایي، واجب لعینه واجب لغیره او داسی نور.

(نور بیا)

څلورونشتمه برخه

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

علماء وجامعه، روحانیت کشور محافظین و سپاهیان سرحدات جغرافیائی و نظریاتی کشور اند

قلعه، جوادی

قسمت نهم

جهاد های ضد انگلیسی و نقش علماء در آن :

ما در آغاز صحبت و مطلب به عرض رسانیده بودیم که علماء و جامعه، روحانیت کشور به حیث یگانه محافظین و سپاهیان سرحدات جغرافیائی، نظریاتی و عقیدتی کشور در طول تاریخ آنچه از مکلفیت و مسئولیت دینی، شرعی وملی به این ارتباط به اوشان متوجه بود به کمال همت و امانت به دوش کشیده و برای همیش پیشاپیش و دوشادوش ملت قهرمان و همیشه در سنگر افغان قرار داشته اند و علیه استعمار و سلطه، خارجی واستبداد داخلی به قدر وسع و توان نیروهای ملی و مردمی را فتوای قیام ومبارزه داده اند و رهبری شان کرده اند، به خصوص در سه نوبت مصاف و پیکار بزرگ و خونین که میان امپراطوری بریتانیه وملت مسلمان افغان رخ داد و در تاریخ بنام جنگهای اول، دوم و سوم افغان و انگلیس یاد میشود، جامعه، روحانیت وعلمای کشور حیثیت محوری و مرکزی جهاد و پیکار را علیه دشمنان انگریزی اختیار کرده بودند که تاریخ شاهد و گواه خوبی آنست.

آنچه به ملت و نیروهای ملی ارتباط میگرفت اوشان به الهام از دین و آئین اسلامی خویش و غرور ملی و میهن خود ها به فتوای علما و جامعه، روحانیت مجاهد کشور طوری علیه کفار و اجنبی ها مصاف و کارزار میکردند که همه از هست و بود مادی و معنوی خود ها را به ایثار کردن سروجان خود بدون تکلیف به قربانی آماده و حاضر میداشتند و تا از پای در انداختن دشمن و انهزام و شکست آن ترك عزم و اراده نمیکردند و از همین جا بود که دشمن هیچ گاه در میدان کارزار و جنگ گرم و مقابله، نظامی مقابل ملت عزیز ما دست آوردی و پیروزی نداشتند و آنچه متاسفانه برای همیش بدست آورده و پیروز گردیده است در میدان سیاست و دیپلماسی بوده که ملت ما را در آن دسترسی و راهی نبوده است. غبار به این حقیقت در کتاب خود (افغانستان در مسیر تاریخ) چنین اشاره مینماید: (البته این یك واقعیت تاریخی است که دولت برتانیا با آن قدرت و عظمتی که در شرق و غرب جهان داشت ..... پس و قتیکه با افغانستان مقابل شد تا جائیکه حریف او دولتهای افغانستان بودند در تطبیق تمام پلانهای خود مؤفق و کامیاب بود. انگلیس توانست توسط شاه شجاع پادشاه ابدالی افغانستان معاهدات لاهور و قندهار را (۱۸۳۸-۱۸۳۹) بر افغانستان تحمیل و ولایات شرقی کشور را مجزا نماید و هم طبق پلان قوای نظامی خود را در مملکت مسلط واداره، کشور را نظارت نماید. امیر دوست محمد خان نیز از مقابل قشون دشمن جنگ ناکرده به بخارا فرار کرد و باز جنگ ناکرده به آنها تسلیم شد ..... و همچنین در سلطنت دوم خود معاهده پشاور را قبول نمود.

غبار در صفحه، ۵۸۳ کتاب خود معاهده، پشاور را چنین بیان میدارد: (معاهده، ننگین و خاینانه قندهار و لاهور را که انگلیسها بر شاه شجاع تحمیل کرده بودند؛ ملت مجاهد افغان به خون و زور شمشیر شسته و از بین برده بودند که متاسفانه باز انگلیس در معاهده جمرود ۳۰ مارچ ۱۸۵۵ میان کونر پنجاب و ولی عهد دوست محمد خان (سردار غلام حیدر خان) بدون چون و چرا امضاء شد استقلال افغانستان غالب با ولایات سواحل راست سند و بلوچستان و غیره رسما به دشمن مغلوب تسلیم گردید و راه بدبختی کشور و نفوذ استعمار انگلیس در افغانستان باز شد).

غبار می افزاید: (امیر شیر علي خان هم مثل پدر از مقابل قشون انگلیس جنگ ناکرده فرار و از دولت تزار روسیه استمداد خواست. امیر یعقوب خان به قشون انگلیس تسلیم گردید، معاهده، ننگین گندمك (۱۸۷۹) را امضاء و قسمت دیگر شرقی کشور را به دشمن داد و اقامت قشون انگلیس را در افغانستان با حق نماینده سیاسی او در امور داخلي کشور و تمدید خط تلگراف انگلیس را تا کابل قبول کرد ..... امیر عبدا الرحمن خان که سه صد هزار سپاه داوطلب ملی در معیت خود داشت، بدون جنگ قشون محصور و هراسان و گریزان انگلیس را از شمشیر ملت نجات داد و بر معاهدات مطلوب انگلیس امضاء گذاشت. او تمام ولایات مهم شرقی افغانستان را طبق معاهده، دیورند (۱۸۹۳) به دشمن مغلوب سپرد و استقلال کشور را فدای «دوستی» با انگلیس نمود.

امیر حبیب الله طبق معاهده، ۱۹۰۵ تمام تعهدات پدر را با انگلیس «صمیمانه» رعایت نمود. و همچنان دست آورد سیاستیکه در نتیجه متارکه جنگ استقلال (جنگ سوم افغان و انگلیس) میان افغانها و انگلیسها بدست آمد، هیچگاه مطابق به آرزوی مجاهدین و ملت مسلمان نبود. پس انگلیسها در مبارزات نظامی و سیاسی و تبلیغاتی خود علیه دولت افغانستان غالب بودند.

آنچه به ملت قهرمان و مجاهد افغان ارتباط میگرفت در راه حفظ دین و ارزشهای ملی و

وطن خود به تمام معنی از حساب دولتها و شهزاده ها جدا بوده آنچه عزت و غرور دینی و ملی شان حکم مینمود آن میگردند و همیشه بارگران دفاع از کشور به عهده، آنها لمیده بود به این حقیقت غبار چنین اشاره، دارد: (اگر مردم افغانستان در لحظات خطرناك مقدرات خود را تابع رفتار امراء و شهزاده گان مینمودند، شك نیست که افغانستان با تمامیت خود معدوم شده بود، ولی اینطور نبود، و قتیکه حکومات افغانی شمشیر دفاع را بر زمین مي گذاشتند، مردم شمشیر ازمیان میکشیدند.

این است که دولت انگلیس با آنهمه قدرتش هنگامیکه با مردم افغانستان مقابل میشد، مغلوب میگردید. چنانیکه در جنگ اول مردم افغانستان اردوی انگلیس را تباه، افسران شانرا مقتول، شاه شجاع انگلیس را معدوم نمودند، زنان و مردان انگلیس را به گروگان گرفتند، عهد نامه، که خود میخواستند (۱۸٤۲) تسوید و بالای انگلیسها امضاء نمودند ... و همچنین در جنگ دوم مردم افغانستان سپاه انگلیس را در هم شکستند .... در میوند قشون امپراطوری انگلیس را مثل رمه گوسفند ذبح نمودند. ..... سر کیوناری کانترولر افغانستان را با قصرش مثل شمع در کابل سوختند. بالاخره انگلیسها که برای اشغال جاویدانی افغانستان و تجزیه ابدی و انداختن طوق غلامی بگردن ملت افغانستان آمده بودند، مثل بقایای یك گله، تازیانه خورده، نفس های آخرین خود را تا هند نگرفتند).انگلیس که در اول وهله و آغازکار در فکر تسخیر نظامی افغانستان بود و از این راه و وسیله میخواست که با اهداف مطلوب خود در افغانستان دست یابد در جنگ دوم افغان و انگلیس عملاً متیقین شد که تسخیر و حفظ آن با قوه، ناممکن و صعب میباشد. غبار به این واقعیت چنین اشاره میکند: (پس در عوض ماشین نظامی، دستگاه دیپلوماسی انگلیس در افغانستان بکار افتاد زیرا در رزم و جنگ نظامی طرف برتانیه ملت افغان بود و برتانیه بر آن غلبه نمیتوانست در حالیکه در رزم سیاسی، مقابل برتانیه یك فرد یعنی پادشاه مملکت قرار میگرفت و غلبه بر او آسان بود).

چنانچه در جنگ دوم سپاه انگلیس طی یك سال و هفت ماه مقابل افغانها مغلوب و در کابل لشکر آن در خطر استیصال قرار داشت که از طریق دیپلوماسی و سیاست بازی انگلیس توانست که توسط ص۳

ملت قهرمان در اسارت حکام نا اهل

بقلم: م - ب

وقتی تاریخ ملت قهرمان افغان را ورق زنیم، شجاعت، شهامت و.... مواصفاتی را می یابیم که همه جهانیان آنرا جزء فطرت طبعی افغانان می شمارند.

درین سرزمین بال تکبر متجاوزین و مستکبرین شکسته است، که نمی توان تمام این رادمردی ها را به احاطه کاغذ در آوریم، ولی آنچه نمی توان از آن انکار کرد اینکه متأسفانه این ملت غیور و مسلمان همیشه در چنگ حکام مزدور و جبون اسیر بوده اند، اگر گهی ابر مردی به پا خواسته و ملت را منسجم ساخته یا از بین رفتن وی احفاد او دوباره دربار عشرت و خوشگذارنی را گرم ساخته و دوباره حکام جبون و بی کفایت بر مسند قدرت تکیه زده اند. در طول تاریخ تمام قیامهای در این سر زمین مردمی بوده اکثر حکام افغان در اوقات حساس و سرنوشت ساز کنار رفته و ملت را در ورطه، نابودی قرار داده اند که تاریخ افغان شاهد زنده این حقیقت است.

در نتیجه همین بی کفایتی های حکام نا اهل و جبون روسهای جنایت کار در حریم کشور ما تجاوز نمودند و عده، از مزدوران خود فروخته خود را بر مسند قدرت نشاندند ملت افغان در برابر آنها قیام نمودند و حماسه هاي جاویدان آفریدند در نتیجه، فداکاری و جهاد برحق مردم افغان روسهای جنایت کار مجبور به ترك وطن ما گردید ولی از سیاست شیطانی استعمار کهن تا امروز کار گرفته تجاوزات بی شرمانه خود را هنوز هم ادامه میدهند.

در اوج قیام ملت افغان علیه استعمار سرخ پدیده های جدید تبارز کرد هر کس از گوشه و کنار کشور و خارج آن صدای همدردی را با افغانان مظلوم بلند ساختند، دشمنان در کمین نشسته هم خواستند عده، را تحت حمایت و نوازش خویش قراد دهند تا در اوقات مناسب از آنها بهره گیرند حمایت های خارجی باعث رقابت های سیاسي گردید. تشتت کرد تا شاخ و پنجه گرفت و اکنون ملت مسلمان افغان در تراژیدی های دردناك آن آتش گرفته به خاکستر مبدل میگردند.

با وجود اختلافات شدید اربابان قدرت ملت قهرمان افغان به جهاد و مبارزه، خویش ادامه دادند. تا اینکه مزدوران کمونست را از پا در آوردند. وقتی قافله فتح به سر منزل مقصود رسید همه ولایات یکی پی دیگر بدست پرتوان مجاهدان راه اسلام سقوط کرد، ولی در اخیر توطیه های دشمن سفاك کارگر افتاد و اربابان قدرت را بجان هم انداختند. و بدین قسم حکومت مزدور کمونستی به اساس پایمردی و ملت قهرمان افغان سقوط کرد.

با سقوط حکومت کمونیستی همه، ملت را شادمانی فرو گرفت، گمان بردند، شریعت غرای محمدی پیاده میگردد، عدالت اجتماعی چنانچه و عده داده میشد تحقق مي گیرد از قاتلین ملت و از کمونستان مزدور انتقام خون هزاران شهید گلگون کفن گرفته میشود، روسها به ملت افغان غرامت جنگی می پردازند، کمونستان به محکمه، عدل کشانیده میشود و چون نازی ها جنگ جهانی بحیث مجرم ملت پنداشته میشود یتیمان و بیچاره گان، علماء و کارمندان به حقوق حقه، خویش میرسند، کار به اهل آن سپاریده میشود، حقوق همه مساویانه محفوظ میگردد و بدین قسم هزاران سراب های خیالی را که از طرف اربابان دروغ گوی قدرت در طول جهاد به مردم وعده داده شده بود در ازهان می پرورانیدند.

ولی متاسفانه بر خلاف تمام توقعات اربابان قدرت با یکدیگر تیغ ها از نیام بر کشیدند و ملت مسلمان افغان را بجان هم انداختند گاهی با یك لقب و گاهی با القاب دیگر ملت را مصروف داشتند.

درین گیر دار سیاسی و نظامی اربابان قدرت کمونستان مزدور و قاتلین ملت آنابیخه یه، و نیم دهه هزاران اطفال معصوم را بی پدر و هزاران زنان مظلوم را بی خانمان نمودند، ملت را بدام اجانب انداختند، کشور را فروختند و صدها مردمان را بی خانه و کاشانه ساختند، کشور را به ویرانه مبدل کردند آنها با این همه مظالم و ستم جان به سلامت بردند، عده، فرار نمودند و خاطر آسوده کردند و عده، دیگر با دندانهای خون آلود خویش در زیر صالون حمایت مدعیان اسلام قرار گرفتند.

ازین گلشته حکومت و حکومت داری افسانه اطفال شده بر سرنوشت و تاریخچه یك ملت قهرمان بازی میشود، در طول مدت حکومت که بنام اسلام در کابل بدست مدعیان اسلام بپاخواسته است؛ جزء رسوایی اسلام و مسلمانان و بد نامی جهاد برحق ملت مسلمان افغان سودی نرسانیده است. آنچه درین چار سال بدست داعیون اسلام و داعیون خلافت عمری صورت گرفته است، جرایم مضحکه و افسوس ناك است که قلم یارای تحریر آنرا ندارد، زبان قدرت گفتن آنرا و بالاخره گوش یارای شنیدن و تحمل آنرا نخواهد داشت، با آنهم اربابان جاهل و بی کفایت عنان شاهی را به سر کرده خود را وارث حقیقی و ممثل یگانه ملت می پندارند. ولی این وضع دیگر قابل تحمل نیست، این همه واقعیت های تلخ جامعه اند که در ادامه آن تمام داعیون قدرت سهم دارند، آنها مسئول رعیت خویش اند، در مناطق تحت تصرف آنها، تجاوز بر حریم و ناموس مردم شغل عادی تفنگدارن یی ص۳

دخلکو له احساساتو څخه ښکاري چې دطالبانو داسلامي تحريك په پيل کيدو ډېر خوښ دي
په هرات کې دامن او قانون فضا وه. خلك پخپلو کارونو بوخت وو او خوشالي حکمفرما وه

(شيخ الحديث مولوي محمد حسن جان صاحب)

مونږ رباني او حکمتيار ته وويل چې له تومو سره دښيګڼې تقاضا دا ده چې تاسو اتفاق او اتحاد وکړئ؛
دربارني او حکمتيار ائتلاف دطالبانو داسلامي تحريك دناکامۍ سبب نه شي ګرځيدلای

(شيخ الحدث مولوي غلام محمد صادق صاحب)

> درانه لوستونکي، څبر دی چې په تیرو څو میو ورځو کي دپاکستان او ایران یو شمیر علماء کرام کندهار، هرات او دهیواد ځینو نورو سیمو ته تللي وو، دعلماو دغه هیئت له امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد او دتحریك له نورو زیاتو شخصیتونو سره ولیدل، هغوی له عامو خلکو سره هم لیده کاته وکړل او عامو غونډو ته یې وینا وي وکړی چې په تیره ګڼه کي دهغوی دغونډو مکمل رپوټ خپور شو دادی په دې ګڼه کي دصوبه سرحد دامداد العلوم دمدرسې له شیخ الحدیث مولوي محمد حسن جان صاحب او دچارسدې داسلامي مدرسې له شیخ الحدیث مولوي غلام محمد صادق صاحب سره هغه مرکې را اخلو چې په دې سفر کې یې له شریعت غږ راډیو سره کړې دي. (اداره)

ډېر محترم مولوي محمد حسن جان صاحب، که مهرباني وکړی او دخپل سفر اغراض روښانه کړی نو ډېره به ښه وي!

بسم الله الرحمن الرحیم- زمونږه واتلل دافغانستان دی پاك سرزمین ته پدی بنیاد او غرض وه چه دطالبانو داسلامی تحریك له ښکلو اثارونه خبر شو او خلقو سره وګورو او ددوی خلاف چی بعضی خلق خبری کوی هغه پخپله وګورو مونږه پدی خوشحاله یو چه زمونږه دوره ډېره کامیابه وه او چه کوم زمونږه ښه احساسات او خیالات وو دهغی مشاهده مونږه په خپلو سترګو وکړه او دا پروپګنډې چه کوم ددوی خلاف کیدی دهغی مو هیڅ اثر ونه لید.

پوښتنه: جناب شیخ الحدیث صاحب تاسی په کندهار کی له عالیقدر امیر المؤمنین او له نورو مسؤلینو سره ولیدل په کومو مسائلو مو سره خبری وکړی او څه فائده پری مرتبه شوه؟

ځواب: مونږ دافغانستان دکندهار په مشهور تاریخی ښار دامیر المؤمنین مولنا محمد عمر صاحب سره او دجناب والی صاحب سره ملاقاتونه وکړل او دمجلس شوری بعضی غړو سره او بیا دجامع مسجد خرقه شریفه کی لویی اجتماع سره ملاقاتونه وشول مولنا محمد عمر صاحب سره پدی موضوع خبری وشوی که دمفاهمت لاره اختیار کړی شی ددی جهاد په سلسله کی نو داستاسو په نظر څرنګه ده نو هغه دلوی همت خاوند وو او جرأت سره ئی دا وویل زمونږه جهاد دادیو شخص خلاف ندی دا په کی افغانستان دبدعملو، فواحشو او بیکاریو خلاف دی نو پدی سلسله کی دمفاهمت څه سوال نه پیدا کیږی زمونږه دطرفه خبره په ډاګه ده اوس دهغه بل جانب دخبرو انتظار دی که هغی دا بدعملی دا بدامنی او بی حیائی ختمول غواړی نو دهغی اسانه لار دا ده چه هغوی دخپلو مناصبو نه استعفی ورکړی ځکه ددومره مودو تجربو سره دا معلومه شوه چه هغوی پدی خپلو اهدافو کی کامیاب نشول نه ئی امن راستو نه ئی ارزانی راوستی شوه نه ئی بی حیائی ختمه کړی شوه نه ئی ډاکوان اوشرکی ختمی کړی. په افغان ملت باندی چه ۱٤ کاله دشوروی یرغل په سلسله کی کوم ظلم شویدی دهغی نه زیات ظلمونه ددوی په یی خرنده دور کی وشول زمونږ دطرفه دمفاهمت څه سوال نه شته دهغوی دطرفه فهم پکار دی.

پوښتنه: جناب محترم مولوی صاحب آیا دلته په کندهار او نورو برخوکی له عوامو خلکو سره مو ولیدل هغوی داسلامی تحریك په برخه کی څه ویل او خپل عکس العمل ئی څرنګه ښوده او هم ستاسو نظر څرنګه دی؟

ځواب: دخلکو سره دملاقاتونو په سلسله کی دخلکو احساسات او جذبات ډېر ښکلی وو پدی سلسله کی مونږه لویه اجتماع هم وکړه دخرقی جامع جوماټ کی خلك په ډېر لوی تعداد راغلی وو چه هغی کی علماء هم وو او د ښار نامتو او مشهور خلك هم وو په ډېر درناوی یی زمونږه استقبال وکړو، دهغوی داستقبال نه دا معلومیده چه هغوی پدی تحریك باندی بی اندازی خوشحاله دی او پدی باندی هر سړی پوهیږی چه دامن او حیا نه بل څه نشته هغوی ته امن حاصل شو او بچیان او ناموس ئی محفوظ شو نو ټول خلك چه مونږه چا سره ملاقاتونه کړی او دهغوی احساسات مو معلوم کړی هغوی پدی اسلامی تحریك بی اندازی خوشحاله دی.

پوښتنه: جناب محترم شیخ صاحب بله پوښتنه زما له تاسو څخه دا ده چه تاسو دسه شنبی په ورځ سره دبعضو نورو ملګرو هرات ته هم تشریف یوړو هلته مو له چا او کومو خلکو سره وکتل او دهغه ځای څخه مو څه ښکلی خاطری راوړی؟

ځواب: مونږ په هرات کښی له والي صاحب سره او دهغه له نورو معاونینو سره ملاقاتونه وکړل او پدی سلسله کښی مو دهرات په جامع هرات کښی چی هغه دهرات مرکز دی یو لوی محفل ته خطاب وکړ. هلته دحفظ القرآن مدرسی په سلسله کښی د علماء دجرګی ملاقاتونه وشو دخلکو تأثر دا وو چی دا آخری دامن پیغام دی چی دطالبانو داسلامی تحریك په واسطه مونږ ته راورسید. دهرات خلك خوشحاله وه او علماء خصوصاً چی زمونږ چا سره ملاقاتونه وشول هغوی پدی چی دعلماء او طلباء او هغو خلکو حکومت دی چی دالله نه ویریږی. او څوك چی دالله نه ویریږی مخلوق خدا (ج) دهغوی نه په امن کی وي. ان شاء الله دهرات خلك خو ډېر ښه وو، او هرات کښی دامن او قانون فضاء وه خلك په خپل کارو بار کښی مشغول وو.

پوښتنه: ډېر ښه جناب محترم مولوي صاحب ستاسو نظر دطالبانو داسلامی تحریك په اړوند څنګه دی او هم اسلامی تحریك دستاسو برداشت له مخی ترکومه حده ښکلی کارنامی ترسره کړی دی؟

ځواب: دی سلسله کښی خو لومړی سوال کښی ځواب هم راغلی چی دخلکو احساسات او جذبه داسلامی تحریك په باره کښی ډېره ښکلی وه. هلته هغوی ته امن او سکون حاصل ده. دوکانداران مطمئین او عوام خلك په اطمینان سره په خپلو کارونو مشغول وو. ښځی په پردو کښی وی هلکان مکتبونو ته تلل. او دوکانونه خلاص وو دجنګ او بدامنی هیڅ اثر مونږ هلته ونه لیده.

پوښتنه: ډېره ښه جناب شیخ الحدیث صاحب دا چی دایران حکومت دافغانستان دطالبانو په سیمه کښی مداخله کوی او خپل ناوړه عمل سرته رسوی ستاسو په نظر ددوی اعمال څرنګه دی؟

ځواب: دایران موجوده حکومت چونکه ملهبی حکومت دی هغوی هم دخپل خاص ملهب دپاره دترویج او دتشهیر کوښښ کوی. نو هغوی پدغه بنیاد په افغانستان کی داسلامی تحریك کامیابیدل نه غواړی ځکه چی دلته داهل السنة اکثریت دی. علماء او طلباء اهل سنت دی نو هغوی په خپل ملهبی فکر باندی اسلامی تحریك طلباء ته خوشحاله نه دی. او دایی کوښښ دی چی په افغانستان دلاملهبو حکومت قائم شی چی زمونږ خپلی غلطی پروپګنډې دهغی لپاره یو میدان او ساحه جوړه شی. هغوی داهل سنت والجماعت دطلباء دحکومت نه له دی کبله په لړزان دی.

پوښتنه: ډېر محترم مولانا غلام محمد صادق صاحب دا چی رباني او حکمتیار دابتداء دانقلاب څخه تر ننه پوری نه یو کیدل په زرګونو مسلمانان یی پر تر بله په خپل مینځ کښی قتل کړل او اوس یی دطالبانو داسلامی تحریك دناکامولو په خاطر سره ائتلاف وکړ. ایا دشریعت او سیاست له لحاظه څرنګه دی؟

ځواب: بسم الله الرحمن الرحیم رباني اوحکمتیار چی دوېره وخته څخه په جګړه اخته ه او د دنیا ټول ملهبي قوتونو دافغان ملت په غم باندی غمزتو قوتونو دهغوی په مینځ کښی دسولی او مصالحت کوښښونه کړی وو. دحرم علماء، او دارنګه دپاکستان علماء، او دافغانستان علماء، یو لوی وفد چی دمکی معظمی دامام په حکم باندی جوړ شوی وه هغی کښی زه په خپله هم ومه مونږ راغلی وو دربانی او حکمتیار دواړو سره مو ملاقاتونه وکړل او دواړو ته مو دملت درد او غم ورواندی کړو. چی په افغانستان باندی دروس دجبر او ظلم نه وروسته داسی حالات دی چی ملك ټول وران دی او خلك ډېر زیات په تکلیف کښی دی اکثریت خلك دملك نه باندی دی دملك دودانی او دقوم سره دښیګړی تقاضا دا ده چی تاسو اتفاق او اتحاد وکړی دواړه جوړه سره وکړی او دا ملك آباد کړی او پدی ملك کښی اسلامی نظام نافذ کړی. په هغه وخت کښی حکمتیار او رباني دواړه یو تر بله په ضد باندی وو. او رباني خپل حکومت یو شرعی او صحیح حکومت ګاڼه او حکمتیار یی باغی ګڼلو. او حکمتیار ویل چی رباني دحکومت اهل نه دی په ده کښی اهلیت نشته دواړو یوی خبری ته هم غوږ نه کیښود حتی چی دحکمتیار په مخ کښی په چار اسیاب کښی علماء، ووژل او بیایی ورته وویل چی دافغانستان په اولس باندی رحم وکړی. او دافغانستان اولس دمزید عذاب څخه محفظ کړی. مګر افسوس چه په هغه وخت کښی په دوی باندی نه دعلماوو دوعظونو څه اثر کیدو. نه دعلماء دژړاګانو څه اثر کیدو. او نه دبهر دنیا اسلامی قوتونو او دافغان ملت سره دغمخوارو قوتونو داپیلونو او درخواستونو څه اثر کیدو. او دوی خپلو کښی قتل او قتال جایز ګاڼه مګر اوس چه کله په افغانستان کښی یو دریم قوت دطالبانو دتحریك په نوم پیدا شو او سمه خبره دا ده چی دطالبانو تحریك ته ددواړو نه زیات قوت او طاقت حاصل دی او په اکثرو حصو باندی دافغانستان دطالبانو دتحریك تسلط دی او ددوی پری قبضه ده اوس ددوی دقاضي حسین احمد دجماعت اسلامی دپاکستان دامیر په اشاره او دهغه په وینا باندی اتحاد کړل او یو ځای کیدل ایکی یواځی دهغه کار دی نه وروسره نور ملهبی قوتونه ملګری شوی دی حتی چی دقاضي حسین احمد په پاکستان کی تشکیل شوی ډله (ملی یکجهتی کونسل) او په هغی کښی شامل ملهبی قوتو ته هم وروسره ملګری ندی ایکی یواځی راغلی او یواځی په یواځی حکمتیار او رباني دده خبره ومنله او په خپلو دوی اتحاد وکړو. دا ددی خبری دلیل دی چی رباني او حکمتیار دواړه دطالبانو دتحریك نه خوف زده شوی دی او دوی باندی ګیراهت راغلی دی. او ددوی دا ائتلاف او اتفاق پدی وخت کښی دعامی وینا په نظر کی دطالبانو دتحریك خلاف اتفاق او اتحاد ګڼلی شی، دشرعی په لحاظ خو اتفاق او اتحاد ته بد نشو ویلی خو سیاسی رنګ دا ورکړی چی دا دوی طالبان په خپل تحریك باندی نور هم مضبوط کړل. او ددوی دا اتحاد او ائتلاف په صحیح مقاصدو باندی ندی مبنی. بلکه صرف دطالبانو مقابله کول غواړی. دطالبانو مقابله ښه خبره نه ده ځکه چی دا ددی ملك اوسیدنکی دینی او ملهبی سرج لرونکی طالبان دی. او دجهاد افغانستان په سلسله کښی ددوی خدمت ددی ټولو احزابو نه ډېر دی.

ځکه دا طالبان په دی احزابو کښی وو او دوی ټولو احزابو څه رنګ که جوړ و دا هم پدی طالبانو جوړ و نو دی طالبانو په جهاد افغانستان کښی تر ټولو زیاته حصه اخیستی ده نن دوی په خپلو کښی متفق شوی دی او په افغانستان کښی دامن راوستو او افغانستان کښی دناروا دختمولو او دخدای جل جلاله دحکمونو دنافذ کولو منظم جد او جهد کوی. نو رباني او حکمتیار ته دا پکار دی په ځای ددی چی دوی خپلو کښی اتحاد وکړي د طالبانو دتحریك حمایت دی وکړي او ددوی سره دی ملګری شی.

پوښتنه: ډېره ښه جناب محترم مولوی صاحب زما بله پوښتنه له تاسو څخه دا ده چی آیا د رباني او حکمتیار ائتلاف به ستاسو دفکر سره سم دطالبانو داسلامی تحریك په سیاسی او نظامی مورال څه منفی اثر وغورځوی او که څنګه؟

ځواب: دربانی او حکمتیار په خپلو کښی اتحاد دطالبانو دتحریك دناکامی سبب نشی ګرځیدی بلکه رباني او حکمتیار چی دپخوا څخه خپله خاصه نظریه لری او بیا چی دجماعت اسلامی امیر قاضی حسین احمد پدی سلسله کښی راغی او یواځی صرف دده په وینا دواړو اتحاد وکړو ددی خبری تأثر ورکوی چی دوی دیوی خاصی نظریی دخورولو دپاره اتحاد کړی دی او افغانستان کښی یوه خاصه نظریی د فروغ او قوت ورکولو لپاره دوی یو شول لهذا ددی په مقابله کښی ددوی دسرچ او نظریی ددوی دخیالاتو خلاف چی څومره قوتونه دی هغه یی دطالبانو سره نزدی کړل. او دهغوی همدردی یی دطالبانو سره پیدا کړله. طالبان خپلو کی که څه زړه کښی وی هغه هم وو تل بلکه اوس طالبان دا محسوسوی چی دمودودی تحریك چی کوم په پاکستان کښی چلیږی دهغه دنافذ کولو لپاره په افغانستان کښی دوی سره یو شول. لهذا طالبان هم ددغه فکر اکثر خلاف دی دافغانستان طالبان او دمودودی صاحب دفکر اکثر خلاف دا ټول یی خلاف دی نو دهغوی په مینځ کښی داتفاق او اتحاد او یوی جلبی فضاء پیدا کړله. قاضی حسین احمد دا په حقیقت کښی دافغانستان سره ښه ونکړل بلکه دافغانستان اولس کښی یی دخلاف او نفرت نوی فضاء پیدا کړه. ده نه دا پکار وه چی دی له ټولو نه اول ئی دطالبانو سره رابطه نیولی وای ځکه چی په دی وخت کی طالبان دربانی په مقابل کښی په حکومت کښی نه دی او رباني دافغانستان په بهرنی دنیا کښی تسلیم دی. نو قاعده دا وی چی خلك اول رابطه داپوزیشن او حزب اختلاف سره کوی چی هغه په څه خبره باندی راضی کړی هغه بیا اقتدار والا ته پیش کوی ده. بالکل معکوس کار وکړ ده اول دربانی او حکمتیار سره رابطه ونیوه هغوی ئی یو کړل او دهغی په مقابله کښی یی بیا طالبانو سره وروسته رابطه ونیوه. نو دده دا کوښښ دافغانستان دطالبانو دتحریك دناکامی لپاره چیری هم سبب نشی ګرځیدلی بلکه دطالبانو تحریك ئی جد هم په جذبه کښی کړو. او دغه رنګی ، دافغانستان اکثر اولس یی هم دطالبانو سره ملګری کړل دغه رنګی دجنګ په میدان کښی هم ددوی دالحاد یو ځای والی دوی ته نفع ، فائده ونه رسوله بلکه نقصان یی ورته ورساوه چی ددوی دیوځای والی نه پس دوی دطالبانو خلاف څو تعرضونه وکړل په هغو کښی دوی ناکامی ومونده. چار اسیاب باندی دوی په طالبانو تعرض وکړ هغه کښی یی شکست وخوړ عینك باندی یی تعرض وکړ په هغه کښی دوی له شکست سره مخامخ شول. او دغه رنګی یو لوی ولایت هم ددوی داتحاد نه پس ددوی دلاسه نه ووتلو. دا ددی خبری بل دلیل دی چی پدی یو ځای والي باندی د دواړو ولو قوماندانان هم خوشحاله نه دی هغوی هم دا محسوسوی او دا زړه کښی والی چی تر اوسه پوری دوی مونږه بی هدفه جنګ کی مبتلا وساتلو او زمونږ په لاس یی ډېر خلك قتل کړل او مسلمانان یی مړه کړل. او اوس ناڅاپه ددوی په مینځ کښی اتحاد او ائتلاف راغلی نو دا خو ددی خبری غمازی ده چی دا تر اوسه پوری چی دوی جنګ مسلط کړی و او دافغانستان اولس یی تس نس کړو افغانستان باندی دواړو طرفونو بیاړې کولی دا محض دوی داقتدار لپاره او چوکی لپاره کول خو هغه قوماندانان چی اعتدال پسند دی او آخر خو هغوی مسلمانان دی دهغوی په زړونو کی ضرور دا جذبه را اوچتیږی چی دا دواړه ولی حکمتیار او رباني خالص دخپلو غرضونو لپاره مونږه وجنګولو اوس هغوی هم داسی معلومیږی چی کامل تعاون او امداد نکوی هسی په نوم که وروسره دڅه مجبوریو له امله وی خو پوره امداد او ملګرتیا ورسره نکوی.

پوښتنه: ډېر محترم شیخ الحدیث مولانا حسن جان صاحب که تاسو دافغانستان مظلوم او قهرمان ملت ته او هم نوری اسلامی او غیر اسلامی نړۍ ته څه پیغام لرئ. نو ووایاست تر څو دشریعت غږ راډیو له لاری ورته ستاسو پیغام ورورسیږی؟

ځواب: زما اول عرض او درخواست رباني صاحب او حکمتیار صاحب ته دی او هغوی ته دا پیغام رسول غواړم چی دخدای (ج) بنده ګانو دروس دختمیدو نه پس چی افغانستان کی دمسلمانانو حکومت قائم شو دهغه وخت نه پس تاسی دواړه په جګړو اخته یاست داقتدار په جنګ کښی مو درنیم کاله پاو کم څلور کاله تیر کړل. افغان ملت خوار او زار شو کوم نقصانات او تباهی چی دشوروی دتعرض په زمانه کښی شوی وه دهغی نه زیات ستاسو زمانه کښی وشوه. خلك دربه در شول دافغانستان دملت اسلام مینه مو په کفر بدله کړه. او دعلماء و سره محبت مو په نفرت بدل کړ . او داسلامی شعار دتوهین سبب تاسی وګرځیدئ. او د افغان ملت دعزت نوم دستاسو دجنګونو او جګړودوجی نه دذلت نوم وګرځیدو. نو تاسو ته دا پیغام دی تاسوته دا درخواست دی چی افغانستان ستاسو میراث نه دی تاسو پدی درنیم کاله پاوکم څلور کاله کښی نه امن راوستو. نه مو اسلامی نظام راوست، نه مو خلك خوشحاله کړل. نو دا حکومت پریږدی، علماء وته یی پریږدئ، طلباء وته یی پریږدی خلکو ته ئی پریږدئ، چی هغوی دخدای (ج) څخه ویریږی، دهغی نه پس دعوامو په خدمت کښی می دا عرض او ګذارش دی! ای دافغانستان مسلمانانو تاسو یوه عظیمه فتحه کړیده، یو لوی جهاد مو کړی. دهغه جهاد دثمراتو نه تاسو تر اوسه پوری محرومه یاست او دا ستاسو ګناه نده دا ستاسو درهبرانو او داحزابو دمشرانو ګناه ده چی داقتدار لپاره او دکرسی لپاره په جنګ اخته دی. نو تاسو ته دا عرض دی چی دغه دواړه تاسو وازمویل په درنیمو کالو کښی دهغوی دلاسه تاسو ته خیرونه رسید اوس تاسو دعلماء، او طلباء، و شاته ودریږئ هغه خلك چی دخدای (ج) نه ویریږی هغوی به ستاسو د حقوقو تحفظ وکړي تاسو کی به داسلام خبری راولی. افغانستان کی به په ریښتیا اسلامی حکومت جوړ کړي او که دا نه وی نو تاسو به ددغو جنګونو په نتیجه کی تباه شی او خدای (ج) مه کړه بیا به دربانډی دکافرانو نظام راشی. ستاسو حیاء او عزت او ناموس به ختم کړي. تاسو ولیدل پدی دری نیم کالو کښی چی په لارو شوکمار ناست دی ډاکوان ناست دی پنځه ویشت حکومته جوړ دی د یوه حاکم په ټول افغانستان کی اختیار نشته. شکر دی طالبانو ته دی وخت کښی په تقریباً ۱۵ ولایاتو کښی اختیار حاصل دی تاسی هغه په خپله هم وینئ او اوریدلی به موهم وی چی امن و امان دی نه هغه زنځیرونه شته نه هغه ګمرګونه شته (پاټکونه) نه هغه بی حیایی او بی عزتی شته.

خلك خوشحاله شول. نو تاسو هم باقی خلك دطالبانو شاته ودریږئ چی په ټول ملك کښی یو حکومت راشی، دعلماء، و سره ستاسو ژوند تړلی دی دپیدا کیدو نه تر مرګ پوری نه تاسو دعلماء، نه جدا کیدای شی او نه هغوی تاسو نه جدا کیدای شی نو داسلامی حکومت په قیام کښی له علماو او طلباو سره ملګری شی ان شاء الله العزیز یو اسلامی ریښتونی دخلافت راشده په طرز به په افغانستان کښی حکومت راشی او دا به ان شاء الله ستاسو په تعاون کیږی. دخدای (ج) دفضل او کرم نه پس اسلامی نړۍ ته مو دا درخواست او ګذارش دی چی څنګه تاسو پخوا دافغان ملت حمایت او نصرت داسلام په بنیاد کاوه، دکفر په مقابله هغه امداد جاری وساتی ځکه هغه صرف دروس دویستلو لپاره نه و هغه پدی ملك کښی داسلام دنظام او داسلامی تعلیم او ثقافت دپاره و هغه لاجاری شوی ندی. هغه په ان شاء الله دعلماء، او طلباء، و په لاس جاری کیږی زما تاسو ته دا درخواست دی چی تاسو دمسلم افغان ملت سره امداد وکړی ددوی سنګرونه پاخه کړی ددوی جماتونه او مدارس آباد کړی دوی سره مالی او جانی قربانی وکړی چی دجهاد ثمرات دوی ته حاصل شی. او ستاسو عمل هم تر پایه پوری ورسیږی ستاسو نصرت که بند شی او اعانت بند شی نو دستاسو دتیرو عملونو ثمرات به هم ورته حاصل نشی. نو دا امداد جاری وساتی چی دوی دجهاد په نتیجو او ثمراتو کښی کامیاب شی.

پوښتنه: ددی نه بعد جناب محترم ملانا محمد غلام محمد صادق صاحب که چیرته تاسو هم دافغانستان مظلوم ملت او نوری اسلامی او غیر اسلامی نړی ته څه پیغام لرئ. نو تاسو هم خپل پیغام وړاندی کړی.

ځواب: حضرت شیخ الحدیث محمد حسن جان صاحب پیغام چی کوم دافغانستان اولس رباني او حکمتیار په نوم مخکی پیش شو همدغه اهم پیغام دی زه هم دا تائیدوم او دی سره سره څنګه چی حضرت شیخ الحدیث صاحب و فرمائیل چی په افغانستان باندی حکومت دا دڅه خاص شخص حق ندی بلکه دا ددی عام اولس خوښه ده چه چاته دافغانستان حکومت سپاری. نو هغوی یی سپارلی شی تر څو وخت پوری ۱۵ صوبو باندی دطالبانو حکومت دی ۱۵ صوبی خو په یوځل باندی دربانی دحکومت لاندی ندی او همدا رنګی نوری صوبی ډېری هم دده حکومت لاندی نه دی دمثال په طور دننګرهار صوبه هغه هم دبیل حزب دحکومت لاندی ده مزارشریف او دا نوری ډېری علاقی داهم دده له حکومت نه بهر دی. نو چی دی تناسب سره وګورو نو دربانی په ډېره کمه حصه باندی حکومت دی. او دربانی دحکومت عام دافغانستان اکثریت خلك، مخالف دی، چی دافغانستان اکثریت اولس رباني نه غواړی. نو بیا په حکومت باندی، ټینګیدل ښه خبره نه ده. ددی په ځای چی دی دروس او امریکا نه مرسته غواړی ښه خبره دا ده چی خپل حکومت طالبانو ته وسپاری ■

د ادب ملغلری

ادبي ټوټه | احسان الله

د سرك د غاړې ملنګ

هغه به له سهاره تر ماښامه د لوی سړك پرغاړه ناست و، په بېر سر او بیره ږیره به یې من من ګردونه پراته وو، خیرنې جامې به یې په تن کي وې، هیڅوك نه پوهېدل چې هغه څوك دی او د سړك پر غاړه د څه لپاره ناست دی، نه له چانه خیر غواړي، نه له چاسره خبري کوي او نه د خلکو ګروورونه متوجه دي بلکې یوازې او یوازې له څو شیبو وروسته غږ وکړي چې«دا دوهم»بیا غلی وي او ناڅاپه ووایي چې«دا دریم».

زه له څو ورځو څخه د هغه دغو کړو وړوته متوجه وم، خو په دې نه پوهېدم، چې له دغه شمېرلو څخه دده مطلب څه دی او څه شی شمېري، آخر یوه ورځ سهار وختي دده ترڅنګ کیناستم او د ده کړه وړه او حرکتونه می ترڅارنې لاندې ونیول، مالا د ده حرکات او کړه وړه سم نه وو ارزیابي کړي چې ناڅاپه یې وویل «دا اتم» بیا غلی شو او زه «د اتم» په فکر کې ډوب شوم، هغه بیا وویل «دا نهم» او په دې ترتیب یې په سړك کې سترګې ښخې کړې وې، ما چې سړك ته کتل نو په هره ګړۍ‌یې شمېره موټر له یوې خوا او بلې خوا په سړك باندې تېریدل راتېریدل، نو ځکه سمې نتیجې ته ونه رسېدم.

زه لا د نتیجې په لټه کې وم چې ده وویل «دا لسم» د «دا لسم» په ویلو سره می سترګې د کباړ او- سپنې په ډك یوه موټر باندې ولګېدې او ایله می هغه راز کشف کړ چې د سړك د غاړې د ملنګ په خبره کې نغښتې و، او چې «دا یوولسم» یې هم وویل نو ګومان می په یقین بدل شو او په دې نتیجه ورسېدم چې ملنګ هره ورځ هغه په کباړي او سپنو ډك موټر شمېري چې د ده له خوازه وطن څخه نورو بازارونو ته لېږدول کېږي او یوازې همدې خبرې له هغه څخه د سړك د غاړې ملنګ جوړ کړی دي او خدای(ج) خبر دی چې تر اوسه پورې به یې څومره موټر شمېرلي وي او لا به نور څومره وشمېري.

طالب العلم نور الحق حامد

د طالب ارمان

طالبه ستاږه کښی پراته ډېر ارمانونه دی
لاړل طالبان له مونږ نه په وینو سره ئی ګریوانونه دی
طالبه تا په مدرسه کښی خپل درسونه ویل
هم دی په مینه له استاذنه سبقونه ویل
اوس خو پراته یتا د خاورو انبارونه دی
لاړل طالبان له مونږ نه په وینو سره ئی ګریوانونه دی
مسعوده تا کښی پوهه نشته بی مروته ئی ته
له روس هندو نه امداد غواړې بد شهرته ئی ته
هندو او روس ته موږ ورکړی سبقونه دی
لاړل طالبان له مونږ نه په وینو سره ئی ګریوانونه دی
ستا ائتلاف دی بی فایدی له حکمتیاره سره
لکه چې مالګه نه جوړیږي له پر هاره سره
تا سوخوړلی ډېر په خپل منځ کښی سرونه دی
لاړل طالبان له مونږ نه په وینو سره ئی ګریوانونه دی
ای مخالفو لیډرانو ناکامیږئ تاسی
په کرسۍ مستو انسانانو رسوا کیږئ تاسی
ستاسو په هر محاذ ښه شوی تعرضونه دی
لاړل طالبان له مونږ نه په وینو سره ئی ګریوانونه دی
خدایه کامیاب کړې طالبان همیش سوالونه کوم
وطن نه ورك کړې مفسدان تا ته عرضونه کوم
ما نورالحق درته نیولی خپل لاسونه دی
لاړل طالبان له مونږ نه په وینو سره ئی ګریوانونه دی

د طالب شعار

که می سوځې څوك په داش او په سقر کی
یامی غوښې د بدن وړې په خنجر کی
له جهاده به هیڅکله لاس وا نخلم
که می ټك وهی میخونه څوك په سرکی
دښمنان به د اسلام زبر او زیر کړم
همیشه به ورته ناست یم په سنګر کی

شمس الرحمن «شیر» له غازی نه

خدمات دینی و اجتماعی علماء ...

عبدالرحمن خان خود را از این مهلکه نجات بدهد. تفصیل این همه حقایق و جریانات تلخ و ناگوار را در کتاب (افغانستان در مسیر تاریخ) تالیف آغای غبار مطالعه فرمایند.

از حقایق و واقعیتهای تاریخی که در سطور بالا تذکری بعمل آمد نشان دهنده، این حقیقت و واقعیت میباشد که ملت مجاهد و مؤمن افغان آگاهانه در رفع وجایب و مسئولیتهای دینی و ملی خود ها به خصوص در راه دفاع از سرحدات نظریاتی، عقیده ئی، و جغرافیایی کشور مقابل تجاوز اجنبی در میدان نبرد و جهاد گرم مخلصانه و فداکارانه پیروزیهای شایان شانی بدست آورده اند و سستی و اهمالی در این راه از خود نشان نداده اند که این امر نشان دهنده، قیادت و زعامت آگاه و ملی در میان بوده که مردم را در چنین حالات و شرایط متوجه مسئولیتهای شان نموده و آنها را در ایفاء آن مسئولیت رهنمائی و رهبری داشته اند. که لابد آن قیادت و رهبری آگاه و مخلص، جامعه روحانیت و علماء کشور بوده اند که از منابر و مناره های مساجد، مدارس و خانقاها صدا و فتوای جهاد را علیه کفار و متجاوزین بلند داشته اند و توده های مسلمان و مجاهد ملت به آن ندای فلاح، رستگاری، عزت و شرافت دینی و ملی لبیك گفته اند و به میدان شتافته اند کشته شده اند و کشتند تا قرآن حاکم و کفر از صحنه، گیتی نابود شده حاکمیت دینی و ملی خود را حفظ دارند.

زیرا به جزء از قیادت روحانیت با داشتن مرکزیت الهی (مسجد) و نهاد علمی اجتماعی (مدرسه) و مرجعه روحانی (خانقاه) نه دیگر قیادت و زعامت سیاسی در میان بود و نه کدام حزب و سازمان سیاسیکه ملت به آن مراجعه کرده هدایت و رهنمائی اخذ دارند و نه مرکزیت و نهاد علمی امثال (مکاتیب پوهنتونها و...) که ملت را متشکل ساخته شعور سیاسی داده و به میدان مصاف سوق دارند.

در این راستا و جریان به یك واقعیت و حقیقتی تاریخی و عینی بر میخوریم که منشاء بسیاری از بدبختیها و ناتوانیها در تاریخ ما پنداشته میشود که آن نبودن حضور فعال و حتی ساده و معمولی جامعه روحانیت و علماء کشور در زمان، مقطع و مرحله اثبات انقلاب، همچون موجودیت فعال و همه جانبه اوشان در مرحله و جنبه، نفی و طرد انقلاب است طوریکه در هر انقلاب و قیام دینی و ملی توده ها را علیه استعمار خارجی و استبداد داخلی رهبری داشته اند، استعمار و استبداد رفع و خاتمه پزیرفته در این مرحله که مرحله رفع و طرد استعمار و استبداد پنداشته میشود وجود آنها جدی و همه جانبه محسوس بوده اما در مرحله اثبات، تشکیل و ساختار نظام و اداره، دولتی و سیاسی و ایجاد و احراز زعامت سیاسی و دولتی اصلاً وجود مناسب نداشته اند و جای را به دیگران که اکثراً واجد شرایط نبوده، خالی کرده اند که باین صورت یك فاسد و نا اهل رفته و یا رفع گردیده دیگر نا اهل و فاسد به جای آن تکیه زده است که از این رهگذر همه سعی، ایثار و فداکاری ملت هدر رفته و ضایع گردیده است، که این امر نشان دهنده ضعف و نقیصه مهم و قابل ملاحظه ئی در میان جامعه روحانیت کشور در طول تاریخ بوده که جامعه علماء و روحانیت از سیاست و اجتماع دولتی جدا و دور مانده اند و عملا به جدائی روحانیت از سیاست صحه گذاشته اند. در ماضی نزدیك بشکل عنعنوی و تاریخی وظیفه فتوا، تبلیغ و اعلان جهاد و قیام علیه استعمار و تجاوز خارجی و استبداد داخلی در کشور ما وظیفه علماء و جامعه روحانیت بوده و وظیفه و مسئولیت زعامت و رهبری نظامی سیاسی و دولتی از بزرگان و رهبران قومی و ملی پنداشته شده که اوشان اکثراً روی ناتوانیهای ذاتی و شخصی و با روی فشار ها و ضرورتهای مقابله ها و دشمنی های داخلی هم دیگر رو بطرف دشمن کرده اند و در نتیجه از آن امید برده اند و در آغوش آن سقوط کرده اند ملت و کشور را بشکل مستمر و دایمی آن به مشاکل گوناگون و به نابسامانیها مادی و معنوی مواجه گردانیده اند.

بعد از سقوط دولت ابدالی و تجدید زد و خورد های داخلی شهزاده ها ملك ها خوانین و هم جنگ افغان و انگلیس کشور را بطرف ملوك الطوایفی قدیم کشانیده بود، امیر عبد الرحمن خان در ۱۸۸۰-۱۹۰۱ م بقدرت رسید و توانست کشور را مرکزیت بخشد و امنیت سرتاسری را قایم سازد که این پیش آمد نقطه، عطف در تاریخ معاصر کشور ما پنداشته میشود. گر چه این همه را به عنف، شدت و استبداد کم نظیری انجام داد، زعماء جهاد علیه انگلیس را به اعدام، زندان و تبعید مواجه ساخت طوری حکومت و سلطه راند که گویی احدی در کشور زنده و متحرك نیست اما در مقابل استعمار انگریزی از خشوع و خضوع کامل کار گرفت کشور را به رحم و کرم اوشان گذاشت بعد از آنکه ۱۸۸۰. عبدالرحمن خان نقط بغرض استقرار تاج و تخت شخصی خود از استقلال و قسمتی از خاکهای افغانستان در مقابل انگلیس گذشت و بقیه لشکر انگریز را که در کابل در معرض ایستیصال و نابودی قرار داشتند به حفاظت به جایش رسانید و در ۱۸۹۳ . باز برای حفظ تاج و تخت خود عمل سابق را شدیدتر از آن تکرار کرد (به معاهده، ننگین دیورند) تن داد و معاهده، یی را امضاء نمود که قبلاً دیورند خودش به انگلیسی نوشته بود و مستخدمین هندوستانی او تحت اللفظ ترجمه کرده بودند، همچنان نقشه را که ارگان حرب انگلیس در اطاق خود طبق مراد و منافع طرف خود تهیه نموده بود. امیر بدون آنکه یك کلمه در صورت معاهده افزوده باشد و یا نقشه و خط سرحدی تعین کرده انگلیس را تدقیق نموده باشد چشم پت امضاء نمود و مسئولیت عظیم تاریخی را برای همیشه در گردن خود گرفت. برای معلومات بیشتر مراجعه شود به کتاب (افغانستان در مسیر تاریخ ص ٤٩١).

اما مردم مجاهد و قهرمان افغانستان که در جریان زمامداری مستبدانه و ظالمانه امیر عبدالرحمن خان بارها علیه آن قیام کردند و از خود خشم نشان‌دادند هیچ گاه حاضر نبودند که تن به چنین ذلت و تسلیمی مقابل دشمن دین و وطن خود (انگریز) بدهند و معاهده ننگین دیورند را قبول نمایند بعد از امضاء معاهده ننگین دیورند مبارزات ضد انگریزی به زعامت علماء، و جامعه روحانیت شدت گرفت که جریان آنرا در بحثهای آینده ان شاء الله بیان خواهم داشت ■

ملت قهرمان در...

فرهنگ گردیده است.

وضع حاکم بر کشور افغان را نمی توان در هیچ یك از مصطلحات سیاسی گنجانید یك انارشیزم و ملوك الطوایفی مطلق العنان در کشور حاکمیت دارد، و [illegible] برابر این وضع دردناك هر فرد طبق قدرت و صلاحیت های اجتماعی خود مکلفیت دارد تا قیام نماید و گلیم ظلم و بربریت را از کشور جمع نماید و بدین قسم مدعیان کاذب و دروغ گوی اسلام را از این بیشتر به جهانیان رسوا سازند تحمل این وضع دیگر غیر ممکن است، خود خواهی و بی عدالتی طغیان میکند سکوت و گوشه نشینی ظلم است با همین مفکوره اینك عده، از طبقه، منور کشور (طالبان) با درك حساسیت وضع قیام ورزیدند و بزودی توانستند بناهای ظلم و استبداد را درهم شکنند، اربابان ظالم محلی را سرنگون کردند شریعت و قانون الهی را در بیشتر از نصف کشور پیاده ساختند.

امیدواریم آنروز دور نخواهد بود که درفش اسلام در تمام کشور به اهتزاز در آید و بدین قسم آرمان دیرینه مردم و سراب های خیالی آنها به حقیقت بگرود عدالت اجتماعی تأمین گردد، از روسها و اجیران شان غرامت جنگی گرفته شود کمونستان بحیث مجرمین ملت به میز محاکمه کشانیده شوند و انتقام خون شهیدان گرفته شود و ان شاء الله خداوند کریم اجر نیکوکاران را ضایع نخواهد ساخت ■

په افغانستان کې د يوه واقعي ...

اسلامي تحريك او مسلمان ملت د پاره ملاتړ او دهغه دحق والي ښكاره ثبوت دى.

مونږ هيله كوو چې په راتلونكى كى په خپل ټول مشكلات د اسلامي سلا او مشورو له لارى حل او فصل كړو، څو په دى توگه په هيواد كى واقعي اسلامي حكومت جوړ او اسلامي شريعت تطبيق كړو.

پوښتنه: آيا دطالبانو اسلامي تحريك په راتلونكى كى كوم پلان په نظر كى لرى چى د دا ټول تفاهماتو او مشورو حلقه لره نوره هم پراخه كړى څو د كولاېشن ژر ژر په افغانستان كې امن را مينځ ته او اسلامي حكومت جوړ كړى؟

ځواب: دطالبانو اسلامي تحريك هڅه كوى، ټول هغه خلك چى د ربانى د فاسدى ادارى او هر نوع فساد په خلاف مبارزه كوى، هغه كه په نظرى لحاظ وى او يا تبليغاتى او يا څو په عمل كى فعاليت لرى، دعوت كړى، مونږ او دوى په خپل مينځ كى سلا او مشورى و كړو خپل فعاليتونه سره هماهنگ او مربوط كړو، او مسلمانان سره يو لاس او موټى كړو څو په دغه هيواد كى يو واقعي اسلامي نظام پلى او دفساد او استبداد جرړى له بيخه وايستلى شى. په كندهار كى د جهادى مشرانو غونډى دا وښوده چى د طالبانو اسلامي تحريك د تفاهم پلوى او جهادى مشرانو احترام كوونكى دى، داخبره غلطه ده چى طالبان د جهادى مشرانو سره كوم اختلاف او يا ټكر لرى.

څونږ مخالفت يواځى له هغه چاسره دى چى په هيواد كى فساد جوړوى او د قدرت غوښتنى په خاطر بى وزله او بى گناه خلك وژنى، البته صالح او نيك جهادى مشران څونږ مشران دى، د دوى په د تل د پاره عزت او احترام كوو، په نيكو مشورو به يې عمل كوو.

پوښتنه: دقندهار غونډى فيصله كړى ده چى ربانى بايد د قدرت انتقال ته دزړه له كومى حاضرشى، د ده حكومت غيرى قانونى، غير شرعى او غير نمايند اداره ده، په دى اړوند د ملگرو ملتونو او نورو هيوادونو څخه ستاسى تو قع څه دى؟

ځواب: مونږ د ملگرو ملتونو د استازو سره او همدا راز د گاونډيو هيوادونو نمايند گانو ته په وار وار ويلى دى چى د ربانى اداره د افغانستان د خلكو نمايند اداره نه ده كوم قانونى او شرعى حيثيت نه لرى، د هيواد نمايندگى نشى كولاى، دقندهار دغونډى په تعقيب چيرى چى د افغانستان دجهاد مشرانو په گډه سره د ربانى اداره غير شرعى، غير قانونى او غير نمايند حكومت اعلان كړ

يو ځلى بيا دملگرو ملتونو د مؤسسى، گاونډيو هيوادونو او د نړى له نورو دولتونو او ټولو مؤسساتو څخه غوښتنه كوو چى نور د كابل د ادارى قانونى حيثيت پاينته ورسوى، او خپلى مرستى ور پاندى بندى كړى، څو په افغانستان كى جگړه پاينته ورسيږى او يو اسلامي، قانوني نمايند حكومت را مينځ ته شى.

پوښتنه: د كابل داتتلافى ادارى سره د حزب اسلامي يوځاى كيدلو په هكله ستاسى نظر څه دهه په تحريك باندى به ئى اغيزه څه وى؟

ځواب: څونږ تحريك د فساد او ظلم په خلاف، د اسلامي حكومت د تأسيس او د شهيدانو د ارمانونو دپوره كولو دپاره د مسلمان ملت آواز دى. د الهى نصرت مظهر دى، د ملت په خلاف د قاتلانو ائتلاف او اتحاد به داسلامي تحريك د مجاهدينو اسلامي مقاومت او ايمانى اخلاص لا پسى مضبوط او د الهى نصرت ور به يى و گرزوى، داځكه څومره چى دفساد او ظلم ولى سره نژدى كيږى، هغومره د الهى نصرت او مرستى اسباب او امكانات نور هم برابريږى، د دى كار څرگند او ښكاره ثبوت په قندهار كى د فاسدو او طاغوتى قوتونو اتحاد وو چى د طالبانو د اسلامي تحريك په خلاف سره يو ځاى شول خپلى څلور كلنى جگړى او ديو بل وژنى يى شاته كړى، او تخته پل ته يى دطالبانو په خلاف قواوى راوستلى، خو هغه وو چى الهى نصرت له طالبانو سره ملگرى شو او ټول الله تعالى له نابودى سره مخامخ كړل، دغه فاسد ائتلاف به هم د الله (ج) په نصرت سره بالكل نابود كيږي انشاالله.

پوښتنه: محترم ملا صاحب محمد حسن اخند، د تحريك مجاهدينو او نورو ملگرو، مرسته كوونكو ته ستاسو پيغام څه دى؟

ځواب: څمونږ پيغام، د تحريك مجاهدينو، د افغانستان ملت او د نړى مسلمانانو ته دا دى، چى په افغانستان كى د يوه واقعي اسلامي دولت د جوړولو، د اسلامي شريعت د تطبيق كولو او د لوى خداى (ج) د رضا د حاصلولو د پاره بايد ټول سره يو موټى او متحد شى، په خپله د الله په حكمونو، د الله په دين باندى عمل وكړى او نوروته يى وروسپى په ټولنوكي يى تطبيق كړى، اسلامي حكومت جوړول يواځى د افغانانو وظيفه نه ده بلكى د نړى هر يومسلمان مسئوليت لرى چى د اسلامي حكومت د قيام دپاره هلى ځلى وكړى او خپل ټول امكانات په كار واچوى او د دغه مقدس تحريك ملاتړ وكړى، چى په دى توگه

به په افغانستان او ټوله نړى كى د مسلمانانو سپيځلى هيلى او ارزو گانى تر سره شى، او اسلامي حكومتونو به جوړ شى.

د طالبانو د عالى شورا په غونډه كى ...

منشي د بيلو بيلو موضوع گانو اجنډا غونډى ته وړاندى كړه، په اجنډا كى د هيواد وروستى سياسى او نظامى حالات، په هيواد كې روان اقتصادى بحران چى خلك يې له زياتو ستونزو سره مخامخ كړى دى، كندهار ته د كچكى د برېښنا دراغزولو موضوع، د كابل كندهار ترمنځ د لويې لارى د ترميم موضوع او د گانونو او صنايعو موضوع گانى شاملى دى.

غونډى په اجنډاكى شاملى موضوع گانى وڅيړلى او فيصله يې وكړه چې په دوو مياشتو كې دى د كچكى برېښنا فعاله شى تر څو زمونږ هيواد وال له دى پلوه له ستونزو او مشكلاتو څخه نجات ومومى غونډى فيصله وكړه چى د كابل كندهار په لويه لار دى كار پيل شى ترڅو

د ترافيكو په مخكى اوسنى پراته خنډونه له منځه يوړل شي او په دى توگه به زمونږ د هيواد والو اقتصادى ستونزى هم يوه اندازه راكمى شي.

خبريال زياتوى غونډى فيصله وكړه چې زمونږ د هيواد والو د اقتصادى مشكلاتو د له منځه وړلو لپاره دى په روانه مياشت كې د هيواد ټول مخلص اقتصاد پوهان، ملى سوداگر، صرافان او نور ذيدخل اړخونه راوغوښتل شى چى يو ځل بيا د اقتصادى ستونزو د حل كيدو په اړه بحث وشى او د هيواد د روان اقتصادى بحران د له منځه وړو لپاره لارى چارى وسنجول شي. غونډه په هيواد كى د اسلامى نظام د ټينگښت او د اسلامى نظام په سيورى كي د امن او استقرار دراتلو په دوعا پاى ته ورسيده.

شيخ القرآن والحديث (كان مولوى صاحب)

مرحوم (كان مولوى صاحب) د هيواد په زرگونو شاگردان روزلى او هغوى يې له دينى فيوضاتو څخه بر خمن كړى دى، مونږ په داسى حال كى چي د هيواد د علمى او جهادى

شخصيت په توگه د ده مړينه د وطن لپاره ستره ضايعه بولو هغه ته د لوى خداى «ج» له دربار څخه د مغفرت غوښتنه كوو، وارثانو او اخلاصمندانو ته يې د صبر جميل ارزو لرو.

په وروستيو پيړيو كې ...

ناكامه شوه. ځوك وايي چى دغونډى دپريكړو ناكامونكى هيواد آلمان ؤ. او ځينى نور بيا عقيده لرى چى د دغو غونډو جوړول او مختلف هيوادونه غوښتل د روسيى نظامى چل ؤ، داسى ويل كيږى چى روسانو دغه غونډى څووركى د دى د پاره جوړى كړى وى چى د اروپا نور دولتونه په غفلت كى واچوى او خپله دا و دسلو په تيارى سره خپل ځان ځواكمن كړي.

فرانسى په خپله سختى هڅى ځلى پيل كړى وى چى په نظامى لحاظ ځان مضبوط كړى او له آلمان څخه هغه دوه ولايتونه (آلزاس او لرن) چى آلمانيانو له فرانسى څخه د فرانكفورت د تحميلى تړون په نتيجه كى نيولى ؤ بيرته ترلاسه كړى. آلمان هم د فرانسى د دغو نظامى تياريو او جنگى ارادو څخه غافل نه ؤ، ځكه يى په خپل ټول توان سره په متقابله سيالى باندى لاس پورى كړى ؤ او خپل نظامى

ځواك يى ورځ په ورځ تقويه كول.

په اروپا كى همدغو نظامى پټو تياريو او قوځى سياليو د سيمى ځواكمن هيوادونه له يو بل سره په نظامى تړونونو او اتحادونو، پرو او جنبوته ورو هڅول. لومړى د آلمان، اطريش او روسيى تر مينځ يو مثلث اتحاد مينځ ته راغى چى د فرانسى او انگلستان په مقابل كى ؤ، او بيا روسانو خپله وفادارى بدله كړه له فرانسى او انگلستان سره يى يو مثلث جوړ كړ. ايتاليا چى د آلمان او اطريش په اتحاد كى د روسيه ځاى خالى ولبد، نو په دغه مثلث كى يى ځان شامل كړ او په دى توگه په نړى باندى د دوستى او همكارى په ځاى ورو ورو د تريگنى او دښمنى تورى وريځى راخپريدلى او د وخت په تيريدو سره يې بين المللى ټولنه د جگړى اورته ورټيله كوله چى دغه تريگنى او دښمنى د لومړى نړى والى جگړى لامل او سبب وگرزيدل.

* * *

د طالبانو اسلامى تحريك په هيواد كى د ظلم، فساد، منكراتو، چور او چپاول د مخنيوى لپاره راپورته شوى دى

د طالبانو اسلامى تحريك نه په كومه ژبه، نه په كوم سمت او يا قام پورى اړه لرى بلكى دا تحريك واقعاً يو اسلامى او افغانستان شموله تحريك دى

د صوبه سرحد د كمپونو د علما و كرامو په گډون په پيښور كى د طالبانو د اسلامى تحريك په نمايندگى كي د چنگاس په اوومه نيټه پرتمينه غونډه جوړه شوه.

غونډه د قارى محمد اياز له خوا د عظيم الشان قرآن د څو مباركو آيتونو په تلاوت پيل شوه ورپسي داضاخيلو د كمپ محترم مولوى فضل احمد صاحب په خپله عالمانه وييناكى د طالبانو د اسلامى تحريك تر كنترول لاندى سيمو كى د امن او استقرار په اړه اوږدى خبرى وكړى او په دى لاره كې يې د ټولو علما و كرامو مرسته او همكارى وغوښتله.

خبريال وايي چي د مولوى فضل احمد تر عالمانه وينا وروسته د كچه گړى د كمپ محترم مولوى نور محمد ثاقب په خپله يا ارزښته عالمانه ويناكى وويل: د طالبانو اسلامى تحريك په هيواد كى د ظلم، فساد، منكراتو، چور او چپاول، قتل او قتال د مخنيوى لپاره راپورته شوى او نړيوالوته دا په ډاگه شوه چى د طالبانو اسلامى تحريك په دغه عالي هدف كي بشپړ بريالیتوب ترلاسه كړى او په هيواد كى يې امن او استقرار راوستلى دى.

ده وويل: د طالبانو اسلامى تحريك په هيواد كى د هر ډولهړښى، نژادى، قبيلوى او سيمه ايزى تفرقى مخالف او د هغو دله منځه وړلو لپاره هلى ځلى كوي چى انشاء الله تر زياته حده پورى يې په دى اړه هم بريالیتوبونه ترلاسه كړى دي، اوس زمونږ مسلمان ملت ته دا ثابته شوه چي د طالبانو اسلامى تحريك نه په كومه ژبه او نه په كوم سمت او يا قام پورى اړه لرى بلكى دا تحريك واقعاً يو اسلامى او افغانستان شموله تحريك دى .ز .غه اسلامى تحريك وياړ لرى چې په خپلو ليكو كى او د خپلو ليكو په لومړيو كرسو كى د هيواد د هر ولايت، د هرى سيمى او د هرى ژبى علماً او طالبان برخه لرى او هدف يې دادى چې د كابل غير قانونى او غير ملى اداره راپرزوى.

ده وويل: د طالبانو اسلامى تحريك دى چى د شپاړسو لكو شهيدانو، په لكونو معيوبينو، كونډو، يورو، ورارو او يتيمانو مقدس ارمانونه په پوره كوى، د هيواد استقلال په ساتي او په ملك كى به شرعى نظام ټينگوى.

ده وويل: په هر وخت او هره زمانه كى دينى عالمانو ددين ساتنه كړى ده او په دي مقدسه لاركى يې قربانى وركړى دي، اوس هم زمونږ د وخت د عالمانو وظيفه ده چى دغه مقدسه دنده هغه شان تر سره كړى لكه څرنگه چي د وخت غوښتنه ده، نو لازمه ده چي علماء له دى موقع څخه په استفادى سره خپل تاريخى رسالت سرته ورسوى او په دي اړه د خپلو هلو ځلو له بركته هيواد ته له دغه بحران څخه نجات وركړى.

ده وويل: دا تحريك د اولياء الله تولى دى، نو له دوى سره مقابله له اولياء الله سره مقابله ده، خو تاسو بايد دا ومنئ چى الله تعالى «ج» د خپلو اوليا و مرسته او نصرت كوى ده افسوس سكاره كړ چې گلبدين ربانى د ملحدينو پر خلاف په څوار لس كلن جهاد كى ائتلاف نه وكړى مگر د طالبانو د اسلامى تحريك د پاكو ارمانونو د شنډولو په غرض يې پخپلو كى ائتلاف وكړ.

په ده پسى د ناصر باغ د كمپ د مهاجرينو په نمايندگى محترم مولوى راز محمد وينا وكړه.

دى ويل: مونږ بايد د طالبانو د اسلامى تحريك د هدفونو په تر سره كولو كى پوره برخه واخلو او دا وعده وكړو چي د گلبدين ربانى نوى ائتلاف به شنډوو او د دوى د هر ډول ناوړه هلو ځلو د شنډولو په لاركى به له هيڅ ډول قربانى نه ډډه نه كوو.

خبريال زياتوى چې په دى پرتمينه غونډه كي د چراغ د جهاد د كلي محترم مولوي احمد الله هم برخه درلوده، د خپلى عالمانه وينا په ترځ كى يې د طالبانو د اسلامى تحريك د هلو ځلو ستاينه وكړه او په هيواد كى يې د دوى رغنده فعاليتونه د قدر وړ وبلل.

همدارنگه په غونډه كى د باغوانانو د كمپ مولوى محمد عمر، د خير آباد د كمپ مولوى عبداللطيف د بدخشان د ولايت د خلكو په نمايندگى مولوى شيخ محمد ذاكرى، د باغوانانو د كمپ مولوى شادگل، د كرند د كمپ مولوى معين الدين او هم مولوى شمس الدين عالمانه او جذابى وينا وي وكړى او د گلبدين ربانى د بدنامي ادارى د راپرزولو تر پولى يې خپلى ژمنى بيا نوى كړى. د بدخشان مولوى صاحب په شمالى صفحاتو كى هغو ظلمونه او ناوړه عملونو ته گوته ونيوه چى د ربانى د ادارى له خوا له علما و كرامو سره كيږى.

غونډه د مولوى حاجى محمد صادق په دوعائيه وينا پاى ته ورسيده.

طالبان مناطق ملكى را هيچگاه...

و حاكم گردانيده و در سايه آن همه سر، مال، جان، عزت و ناموس هم وطنان ما از دست برد مجاهد نماء ها و مفسدين مأمون و مصئون گرديده است.

تحريك اسلامى طالبان كه اين همه پيروزيها و كاميابى هاى تاريخى و كم نظير خود را از فيضان نصرت خداوندى و يارى بيدريغ ملت عزيز خود دانسته و ميداند و با خداى خبير و عليم تعهد و ميثاق بسته است كه هيچگاه مرتكب نظر و عمل نشده و نشود كه مخالف شريعت الهى و منافع علياى ملى و مردمى مردم ما باشد و از آن ناحيه تكليفى و آزارى شخصى، اجتماعى، مادى و معنوى به ملت آزاده، ما خداى ناخواسته برسد پس چطور شده ميتواند كه همشهريان عزيز كابل را تحت حملات راكتى قرار داده و اوشانرا ظالمانه به خاك و خون بكشاند. البته اين عمل كار آنانى ميباشد كه در ظرف اين چهار سال ملت عزيز افغان را به بهانه ها و توجيه هاى غير شرعى و مردود مورد تجاوز هاى گوناگون قرار دادند، سرمايه ها، نواميس شخصى و ملى را بطورى مورد تجاوز و دست برد قرار دادند كه در تاريخ كشور نمونه هاى آنرا كم و يا اصلاً ديده نميتوانيم. پس به صراحت و كمال مسئوليت به نزد خدا، ملت و تاريخ گفته بوديم و ميگوييم كه طالبان مناطق ملكى را هيچگاه تحت آتش قرار نداده و نميدهند.

اما مناطق و استحكامات اداره ايتلافى را كه از آنجا ها بطرف مناطق تحت تصرف تحريك اسلامى طالبان طورى مستمر آتش گرشيده ميشود و باعث تلفات جانى و مالى زيادى اهالى ملكى ميگردد مجبوراً جواب و دقيقاً مراضع و استحكامات نظامى و تهيه نظامى اداره، ايتلافى نشاندهى و تشخيص شده سپس به رخ آن آتش جرابى گشروده ميشود كه الحمد لله تا حال همه به اهداف مطلوب اصابت نموده است كه شاهد خوب و برجسته مدعى ما گفته الجهر حكمتيار صدر اعظم اداره، ايتلافي كابل ميباشد كه ميگويد: ميزايل هاى آتش شده همه به اهداف خود اصابت نموده است. و به اين ارتباط كميسيون را مؤظف گردانيده كه نوعيت مزايلها را معلوم نمايد و همچنان ادعا نموده است كه اين مزايل ها توسط كمپيوتر رهبرى ميشود و به اهداف مشخص خود فير ميگردد.

همرطنان عزيز ما آگاهى دارند كه وسايل و تجهيزات نظامى تحريك اسلامى طالبان همه و همه از تنظيمهايكه قبلاً بر مناطق تحت تسلط طالبان مسلط بودند به جا مانده به خصوص ديپو هاى حزب اسلامى كه از اين ناحيه زياد غنى بود و چهار آسياب كه عمده ترين پايگاه نظامى وسياسي حزب در سابق بود از هر نوع وسايل پيش رفته نظامى غنى و مملو بود زيرا حلقه هاى به خصوص نظامى، اطلاعاتى و سياسى منطقه غرض رساندن آغاى حكمتيار به اريكه قدرت كابل از هيچ نوع كمك نظامى، مالى و سياسى با آن دريغ نميكردند ديگر ممكن مينمايد كه راكتهاى به گفته آغاى حكمتيار كمپيوترى كه مستقيماً به هدف مشخص اصابت مينمايد از جانب شان براى طالبان به ميرات رسيده باشد كه مستقيماً به هدف مطلوب اصابت مينمايد نه به اهداف ملكى، اقرار آغاى حكمتيار ان شاء الله شك و ترديدى را كه از اين ناحيه به مردم كابل ايجاد ميگرديد كه گويا طالبان مناطق ملكى را مورد هدف قرار ميدهند رفع گرديده باشد اگر بياد داشته باشيم اداره، كابل بارها به ارتباط مسدود بودن راه هاى مواصلاتى به كابل طالبانرا متهم ميتمود و طالبان متقابلتاً بارها آنرا رد كرده، ميگفتند كه ما راها را مسدود نكرده ايم بلكه اداره، ربانى در مسير راهها اين فرش نموده است كه بالاخره اداره، كابل روى مجبوريتهاى جدى خود اعتراف نمود و اعلان داشته كه ماين فرش شده، را از سركها دور نموده ايم و راها به رخ ترافيك باز ميباشد در آنوقت بود كه براى همشهريان كابل معلوم گرديد. كه طالبان راها را مسدود نكرده، بودند.

ما توجه همرطنان و جامعه بشرى را به اين مطلب هم جلب مينمايم كه اداره، كابل، مخالف همه مقررات و ايجاب حقوق بشرى از مردم بى دفاع كابل غرض مقاصد شوم نظامى خود سپر انسانى تشكيل داده و از عقب آن بر مخالفين خود آتش ميگشايد و از جامعه بشرى جدى ميخراهيم كه اين عمل ضد انسانى و بشرى اداره، ربانى را محكوم نموده مردم كابل را يارى رساند.

د انقلاب گټل آسان او ...

الحديث مولانا سبحان محمود، د البلاغ مجلى مدير محترم مولانا عزيز الرحمن سواتى مولانا محمد حامد د الفاروق مجلى مدير او مولانا حنيف جالندرى در الخير مجلى مدير حضرت مولانا محمد قاسم او يو شمير نوروعلماء كرامو سره وكتل!

زمونږ خبريال خبر راكوى له هغه وروسته چه د قرآن عظيم الشان څو مبارك اياتونه ولوستل شول عالى مقام اميرالمؤمنين او محترم د كندهار والي او دعالي شورى غړيو محترم علماً كرامو ته ښه راغلاست ووايه او ددوى په راتگ ئى خوشالى څرگنده كړه وروسته د كندهار والي محترم حاجى ملامحمد حسن اخوند د اسلامى تحريك د پاخون په اړه څرگندونى وكړى او وى ويل: افغانانو څوارلس كاله د اسلامى نظام د حاكميت لپاره قربانى وركړى ډول ډول مشكلات ئې وگالل خوله بده مرغه د كمونستى رژيم له ړنگيدو سره سم هغه څوك قدرت ته ورسيدل چى نه يوازى يې اسلامى نظام حاكم نكړ بلكه د افغانستان مقدس جهادئى بدنام او د قدرت او چوكى پر سرئى جگړى پيل كړى، فسق او فساد اوج ته ورسيدل خو دلوى خداى په اراده عالي مقام اميرا المؤمنين او څو ملگروئى د علماً كرامو په مشوره ددى منكراتو پر ضد پاڅون وكړ او وروسته ئى د ټولو مخلصو مسلمانانو ملاتړ تر لاسه كړ چى نن الحمد الله د افغانستان په ډيره برخه كى د خداى نظام حاكم دى د خلكو ننگ، ناموس محفوظ او خپلى ورځنى چارى پر مخ بيائى.

محترم والي صاحب وويل انقلاب گټل اسانه او ساتل ئى گران دى مونږ د ټولو مخلصو علما كرامو څخه د انقلاب په ساتلو كښى د نيكو مشورو او هداياتو غوښتنه كوو.

محترم والي صاحب زياته كړه: د دنيا فاسدى ادارى نه غواړى چه زمونږ په هيواد كى دى اسلامى نظام حاكم شى نو ځكه د نړى تش په نامه بشر دوستان د اسلامى حدودو پر جارى كيدلو د اسلام له مقدس دين سره د عناد په منظور اعتراضونه كوى او دا د بشر پر حقوقو تيرى بولى.

محترم والى صاحب وويل زمونږ جهاد د منكراتو پر ضد پيل شوى نو تر څو پورى چى د منكراتو مخه نه وى نيول شوى زمونږ جهاد به دوام وكړى.

ده زياته كړه مونږ نه غواړو چه د ربانى ادارى سره خبروته كينو هغه لدى كبله چه د ربانى اداره د پخوانيو كمونستانو او د هيواد د ملى شتمنيو د لوټ مارانو، غلو او فاسدو عناصرو څخه تشكيل شوى ده، ددى فاسدى ادارى په مقابل كښى به مونږ ترهغه وخته خپل جهادته ادامه وركړو ترڅو چه بشپړ اسلامى نظام په دى ملك كښى حاكم شى.

خبريال زياتوى ورپسى د كراچى د دارلعلوم مهتمم حضرت مولانا محمد رفيع عثمانى په خپله عالمانه وينا كى وويل: مونږ ډير خوشحاله يوو چه نن داسلامى تحريك د مشرانو سره له نژدى گورو او نن الحمدالله په هغو سيمو كښى چه د اسلامى تحريك تر كنترول لاندى دى اسلامى نظام حاكم او د خلكو ننگ ناموس محفوظ دى.

ده زياته كړه: نن مونږ هغى خاورى ته راغلي يو چه د حضرت عبدالرحمن بن سمروه «رض» پښى ئى ښكل كړى او د تاريخ په مختلفو دورو كښى ئى علماء، مرشدين او غازيان زيږولى دى، افغانى خاوره هغه خاوره ده چه د «روس» غوندى طاقت هم پكښى له ماتى سره مخامخ شو.

ده وويل: مونږ د افغانستان په څوارلس كلن جهاد كښى عملى ونډه اخيستى ده په دى منظور چه افغانستان به يو اسلامى هيواد جوړ شي او دا به د نړى د مسلمانانو لپاره يو جهادى سنگر وى خوله بده مرغه زمونږ دا اميد پوره نه شو قدرت طلبه عناصر ولـه خاورو سره خاورى كړ او د افغانستان څوارلس كلن جهادئى په نړى كښى بدنام كړ خو نن الحمد الله و طالبانو د اسلامى تحريك په وسيله زمونږ اميدونه يو ځل بيا را ژوندى شوى او ددى ملك په زياته برخه كى اسلامى نظام حاكم او امن تأمين دى. مونږ يقين لرو چه د طالبانو ټول مشران لو كشرانپه دى ملك كښى اسلامى نظام غواړى او انشاء الله يرى د تاسو په برخه دى.

ورپسى لوى څارنوال محترم ملامحمد عباس اخند او دعالى شورى منشى محترم ملا محمد طاهر انورى د اسلامى تحريك د مقدسو اهدافو په اړه څرگندونى وكړى او دعلماء كرامو د نيكو مشورو او هداياتو څخه ئى خوښى څرگنده كړه.

مجلس د عالى مقام امير المؤمنين لخوا په هيواد كښى د اسلامى نظام د حاكميت د دعايه ويلو پاتى ته ورسيد.

د گډون بيه	شپږمياشتنى	كالنى
پاكستان	Rs. 200	Rs. 400
د خليج هيوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امريكا	$: 75	$: 150

SHARIAT WEEKLY

Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.

Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.

Tel : 840378

PAK - RUPE A/C, CD. No. 1694 -69.

Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)

Peshawar, Pakistan

«ايتلاف حزب و جمعيت محه رى(!) براى صلح دايمى(!) در كشور» ؟؟؟

ربانى رئيس اداره، ايتلافى كابل بعد از آنكه حكمتيار را در حلقه سلطه و حصارهاى نظامى كشيده شده، كابل در دست خود ديد و به اصطلاح مراسم تحليف وفاء دارى حكمتيار را به اداره، كابل انجام داد رو به جلال آباد نمود. ربانى مراسم تحليف را بواسطه قاضى مراد كه سالهاى سال در خدمت رژيم هاى كمونست كابل عليه اسلام، جهاد و مجاهدين قرار داشت به جايى آورد و غرورا آغاى حكمتيار را سخت پشكستاند، و حكمتيار هم به گفته مشهور كه: سيب باشد از بيد باشد خم بر آبرو نياورده نروارى آنچه شيخ الاسلام! اداره، كابل

(مراد على صاحب!) ازطى حلف زمزمه ميداشت و تقريباً خطوط اساسى وظايف حكمتيار را در آن تحليف نامه به اوشان نشاندهى ميكرد حكمتيار صاحب به زبان قال آن ميگفت و به زبان حال اين ميگفت: تعجب و حسرت كه من امروز با آن همه دعواى بلند و بالاى كه از اسلام و نظام اصيل اسلامى و نظام عدل عمرى «رض» داشتم و در آن راه مليونها انسان مظلوم را قربانى داشتم امروزا بلى امروزا توسط مراد على «مراد» قسم و حلف وفاء دارى به اسلام و انقلاب اسلامى به جاى ميآورم!! باز به همان زبان با خود ميگفت كه آب تا گلون بچه زير پاى.

گرچه وفاء دارى آغاى حكمتيار با اسلام و نظام اسلامى جهادى از آن روزى شديداً تحت سوال قرار گرفت كه با ايتلاف نظامى و سياسى با شاخه خلق شاه نواز تنى در صدد رسيدن به اريكه قدرت در كابل شد، و بعد از آن با ايتلاف جناح خلق امنيت ملى و اسلم وطنجار، رفيع و...عليه اداره، مؤقت مجاهدين كه در پشاور اساس گذاشته بود كه در آن اداره مؤقت سمت صدارت عظمى به آغاى حكمتيار تفويض گرديده بود قرار گرفت و كابل و كابليان بى دفاع را سخت كوفت و زمينه احياى رشد و انسجام كمونستها و حركتهاى ضد اسلامى را آماده كرده و انقلاب اسلامى و جهاد را در اذهان عامه، ملى و بين المللى سخت بد نام گردانيد.

و باز روى هر ديكته و هدايت كه بود! بطرفى قرار گرفت كه عليه آن اعلان جهاد! نموده بود و ميجنگيد آنچه از ثمره، انسانى معنوى و مادى اين جنگ به اسلام، جهاد و ملت و به خصوص همشهريان كابل رسيد همه را معلوم و هويدا بوده، به اصطلاح آنچه عيان است چه حاجت به بيان است. از همين جا بود كه مردم كابل براى استقبال گرم و پر محبت (!) از وى كوچه ها و بازار ها پر كرده بود (!)

بلى! ربانى كه خود را سخت فاتح و پيروز در مقابل حكمتيار يافته بود و واقعاً هم كه مقابل آن پيروز ميباشد با شعار و برنامه كه (ايتلاف حزب و جمعيت محورى!براى صلح دايمى!در كشور) آهنگ سفر جلال آباد نمود و در آن شهر شوراى جهادى ننگرهار، جنابان مولوى محمد نبى محمدى، پير سيد احمد گيلانى، مولوى محمد يونس خالص و تعدادى از قوماندانان را ملاقات نمود، دانسته نشد كه مشخصاً چه مطلب در ميان بود و چه نتيجه از آن بدست آمد؟ و اين هم دانسته نشد كه جنابان مولوى صاحب محمد نبى محمدى، مولوى صاحب خالص و پير صاحب روى چه اميد و اطمينان دل به اين ملاقات بستند و از آن چه بدست آوردند؟ اما آنچيزيكه آشكار و هويدا است و از لابلاى نشرات راديويى و صحبتهاى سران اداره، ائتلافى كابل به وضوح معلوم ميگردد آن: دعوت ديگران از مجاهدين و غير مجاهدين و حتى كاركنان سابقه، رژيم كمونستى به يكجا شدن به اصطلاح به پروسه، صلح حزب و جمعيت و داخل شدن در اداره، ايتلافي ربانى حكمتيار ميباشد و ايتلاف حزب و جمعيت را محور صلح دايمى در كشور دانسته و از ديگران ميخواهند كه طوعا و كرها در گرد آن محور به چرخش در آيند. اگر چنين نباشد و سخن واقعا از انتقال قدرت و استعفى ربانى كه عامل عمده، مشكلات و پرابلم هاى در پيش بوده در ميان مى بود و يا باشد پس آنهمه چنه زدنها و جار و جنجال هاى تقريباً دو نيم ماه حزب و جمعيت بسر پوستهاى حكومتى چه بود و براى چه؟ هيچ عاقلى آنهم سياسى بر پوستهاى يك اداره، مؤقت به آن همه جنجالها و مناقشه ها دست نميزند پس معلوم بوده و هويدا ميباشد كه مسئله انتقال قدرت در ميان نبوده، و به زعم خويش اوشان در خفا به تشكيل يك اداره، دايمى به توافق رسيده اند و پوستهاى حساس و كليدى دولتى و حكومتى را ميان خويش تقسيم داشته و در اين مرحله از سايرين دعوت بعمل آورده و مياورند كه براى احراز ساير پوستهاى خورد و ريزه باقى مانده در كنار اوشان قرا گيرند و بس.

د صدر اعظم په توگه د گلبدين حكمتيار له ټاكل كيدو سره سره اوس هم د ده او مسعود ترمنځ اختلافات شته

ورځپانه «كسرتى»

د پاكستان د اردو او پښتو ژبى ورځپانه كسوتى چى له پيښور څخه چاپيږى پخپل يو خبر كښى ليكى. چى د صدر اعظم په توگه د گلبدين حكمتيار له ټاكل كيدو سره سره هم د مسعود او گلبدين ترمنځ اختلافات شته. دا اخبار ليكى چى كابل ته د گلبدين د ننوتلو او د صدر اعظم په توگه د لوړى د مراسمو تر سره كولو په وخت كښى هم احمد شاه مسعود موجود نه و او تر اوسه پورى يى ورسره ملاقات نه دى كړى. داسى ښكارى چى د دوى په منځ كښى اوس هم اختلافات ډير دى. د احمد شاه مسعود شوراى نظار او د حزب اسلامى په منځ كښى دښمنى له جهاد نه مخكى هم وه او بيا د جهاد په وخت كښى هم جمعيت او حزب او وروسته له شوراى نظار سره خونړى جنگونه او د يوبل قوماندانان وژل هغه نښى نښانى دى چى د دوى دا ائتلاف په بيا هم د دوى ترمنځ د وژلو پيلامه وي.

په نيويارك او ويرجينا كى د ميشتو افغانانو په پرتمينو غونډو كي د طالبانو هئيت گډون وكړ

د طالبانو د اسلامى تحريك په باره كى چي كوم شكونه موجودوو له منځه ولاړل.

د امريكا له نيويارك څخه زمونږ خبريال خبر راكوى چي امريكا كى د ميشتو افغانانو په غوښتنه د طالبانو درى كسيز هئيت چى هغه هيواد ته تللى و په نيويارك كي له ميشتو افغانانو سره وكتل.

د كتنى دغه غونډه چى څه دپاسه ۶۰۰ تنو افغانانو پكي گډون كړى و د عظيم الشان قرآن د څو مباركو آيتونو په تلاوت پيل شوه، ورپسى د هئيت د غړيو له خوا د افغانانو هغو پوښتنو ته ځوابونه وويل شول چى د هيواد د روان بحران د حل په اړه ترينه وشوي او د طالبانو د اسلامى تحريك په باره كي چى كوم شكونه له افغانانو سره موجود وو له منځه ولاړل.

په غونډه كي پر نارينه و سربيره زيات شمير افغاني ميرمنو هم گډون كړى و او د هئيت خبرى او توضيحات يي دالله اكبر په نارو سره بدرگه كول.

يادونه

ښايى ستاسو ايمان به اجازه در نكړى چى دا ډول سپيڅلى پاڼى په ناوړو ځايونو كښى وغورځوى.

(اداره)